# اصول فقه په پښتو ژبه کی

# (الاصول من علم الاصول)

تألیف : فضیلة الشیخ محمد بن صالح العثیمین رحمه الله

ژباړه : عامر حسن

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مقدمة المؤلف

الحمد لله نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلى الله عليه، وعلى آله وأصحابه، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين وسلم تسليماً.

أما بعد: پس دا په اصول فقه کی یو مختصر رساله ده چی په معاهد علمیه کی په دریم کال د مقرر په طور تدریس کولای شی  مونږ لیکلی او دا نوم مو ورته ایخی دی

«الأصول من علم الأصول»

زه د الله تعالى څخه دعا کوم چی زمونږ دا عمل دخالص د خپله ځان لپاره وګرځوی او خپلو بندګانو ته پدی سره نفع ورسوی بیشکه هغه نژدی او دعا قبلونکی ذات دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اصول فقه

د اصول فقه تعریف : د اصول فقه تعریف په دوه اعتباره سره کیدای شی
۱ :په اعتبار د هری کلمی یعنی په اعتبار د لفظ د اصول او لفظ د فقه
.پس اصول د اصل جمع ده اصل هغه شی چی هغی باندی د بل شی بنیاد
وی لکه دی څخه ددیوال بنیاد هم دی او د ونی اصل یعنی تنه هم ده چی
هغی څخه د ونی څانگی ښوریږی
الله تعالی فرمايي: ایا ته نه گوری څرنګه الله تعالی بیان کړی دی مثال د
پاکی کلمی چی پشان د پاکی ونی ده ستڼه یی په ځمکه کی ده او څانگی
یی اسمان کی

**{أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّهُ مَثَلاً كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ} [ابراهيم:24].**

او فقه په لغت کی فهم (پوهی ) ته وایی دی څخه دا الله تعالی دا قول دی

**{وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِي} [طه:27]**

ای الله زما د ژبی څخه غوټه کولاو کړی چی دوی زما په خبره پوهه
شی
د فقه اصطلاحی تعریف : د تفصیلی دلایلو په رڼا کی د شرعی عملی
احکامو پیژندنه
زما مراد په لفظ «معرفة»؛( پیژندنی ) سره علم او ظن دی ځکه د احکامو
پیژندل کله یقینی وی کله ظنی لکه د فقه ډیر مسایل همدارنګه دی
زما ددی قول نه مراد«الأحكام الشرعية»؛ ( دشرعی احکامو پیژندل)
هغه احکام دی چی د شرعی نه اخذ شوی دی لکه واجبیدل دیو شی یا
حرامیدل پدی سره عقلی احکام د تعریف نه خارج شو لکه ددی خبری
پیژندل چی مکمل شی د جزء نه لوی وی دغه شان عادی احکام هم پدی
سره خارج شول لکه ددی پیژندل چی کله موسم صفا وی نو دیخنی په شپه
پرخه کیږی
زما ددی قول«العملية»؛ (یعنی د عملی احکامو پیژندل ) څخه مراد
هغه احکام دی چی د عقیدی سره تعلق نه لری لکه مونځ زکات نو دی قید
سره هغه احکام خارج شول چی تعلق یی د اعتقاد سره وی لکه د الله توحید
د هغه د اسما او صفاتو معرفت دیته په اصطلاح کی فقه نه وایی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ددی قول «بأدلتها التفصيلية»؛( په تفصيلی دلايلو سره ) مراد د فقی
هغه دلايل دی چی د فقه د تفصيلی مسايلو سره ارتباط لری نو بي سره
اصول فقه خارج شو ځکه په دی کی په اجمالی دلايلو کی بحث کيږی
دويم : تعريف د اصول فقه په اعتبار د لقب سره ديو فن معين
پدی اعتبار سره اصول فقه هغه علم دی چی دفقه د اجمالی دلايلو څخه
بحث کوی او دفقهی دلايلو څخه د استفادی لاربښونه کوی او د مجتهد (
ددی دلايلو څخه د استفاده کونکی )د حال څخه بحث کوی
زما مراد په «الإجمالية»؛ ( اجمالی دلايلو) سره عام قواعد دی لکه دا قاعده
( امر د وجوب لپاره وی ) نهی د تحريم لپاره صحت د حکم د نفوذ او
قبوليت تقاضا کوی
نو پدی سره تفصيلی دلايل خارج شول دا دلايل په اصول فقه کی صرف د
قاعدی لپاره د مثال په توګـه ذکر کولی شی

زما مراد پدی قول سره «وکيفية الاستفادة منها»؛ (او دفقهی دلايلو څخه د
استفادی لاربښونه کوی)
ددی پيژندنه ده چی مجتهد به څنګـه کولی شی چی ددلايلو څخه احکام
راوباسی دا په لوستلو د الفاظو او دلالت د احکامو سره چی عموم
خصوص اطلاق تقييد ناسخ منسوخ وغيره دی
پس مجتهد په خپل علم سره د فقه د دلايلو او د دهغی د احکامو څخه استفاده
کوی
زما ددی قول مراد «وحال المستفيد»؛ ( د مجتهد حال پيژندل )
پيژندل د حال د مستفيد دی او مستفد مجتهد وی مجتهد ته مستفيد وايی ځکه
هغه پخپله ددلايلو څخه احکام راوباسی ځکه هغه د اجتهاد درجی ته
رسيدلی وی
نو د مجتهد پيژندنه د هغه شرطونه او د اجتهاد حکم وغيره څخه په علم
اصول فقه کی بحث کولی شی

## د اصول فقه فايده :

بيشکه د اصول فقه علم ستر مقام لری د اهميت حامل علم دی ستری فايدی
لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایده یی دا ده چی دی سره یو قسم قدرت او قوت په انسان کی پیدا شی چی هغی سره په صحیح طریقی سره ددلایلو څخه احکام رایستلی شی
او د ټولو نه مخکی دا فن په مستقل شکل سره امام شافعی رحمه الله لیکلی دی بیا د هغی نه پس نورو علماو د هغه په نقش قدم باندی تګ کړی دی هغوی دی فن کی مختلف کتابونه لیکلی بعضی عادی شکل کی بعضی د نظم په صورت کی بعضی مختصر بعضی تفصیلی تردی چی دا یو مستقل فن وګـرځیده چی خصوصیات لری

احکام

احکام جمع د حکم ده حکم په لغت کی قضا او فیصلی ته وایی
په اصطلاح کی هغه طلب یا تخییر یا وضع ته وایی چی د مکلفینو د افعالو سره متعلق وی او د شرعی خطاب یی تقاضا کوی
زما ددی قول«خطاب الشرع»؛ د شرعی خطاب )نه مراد قران او سنت دی
زما ددی قول «المتعلق بأفعال المکلفین»؛ چی د مکلفینو د افعالو سره متعلق حکم وی
هغه حکم دی چی ددوی د اعمالو سره متعلق وی قول وی که فعل په دی باندی حکم وی یا ددی ترک وی
دی سره هغه څه خارج شو چی د عقیدی سره تعلق لری نو دی ته په اصطلاح کی حکم نه وایی

زما ددی لفظ«المکلفین»؛ نه مراد هغه څوک دی چی صاحب التکلیف وی نو دی کی ماشوم او مجنون هم داخل دی
زما مراد ددی قول نه «من طلب»؛ غوښتنه ) دی نه مراد امر او نهی ده چی د لزوم په طریقه سره شوی وی ( یعنی فلانی کار وکړه یا د ترینه منع شه ) یا ترینه د دافضلیت په وجه منع شوی وی ( چی افضل عمل نه وی ) یا پری د فضیلت د وجی امر شوی وی ( یعنی د مستحب په درجه کی وی )
زما دی قول نه مراد «أو تخییر»؛ یعنی شریعت د تخییر په طریقه د یو شی تقاضا کوی ) دی نه مراد مباح دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زما دی قول نه مراد «أو وضع»؛( شريعت د وضع په طريقه د يو شي تقاضا کوی ) صحيح او فاسد وغيره دی کوم چی شريعت د يو عمل د قبوليت او فساد لپاره علامات ټاکلی دی

## د احکام شرعيه اقسام

## احکام شرعيه په دوه قسمه دی ۱ تکليفيه ۲ وضعيه تکليفيه په ۵ قسمه دی واجب مستحب محرم مکروه مباح

واجب په لغت کی لازم او ضروری ته وايی
واصطلاحاً: هغه څه ته وايی چی شارع پری په لازم طور سره امر کړی وی لکه پينځه مونځونه
زما پدی قول سره «ما أمر به الشارع»؛ ( شارع پری حکم کوی) دی سره محرم مکروه او مباح خارج شول
پدی قول سره چی په لازمی طور سره يی پری حکم وی مندوب خارج شو
د واجب ادا کونکی ته ثواب ميلاويږی کله چی يی د شرع تابعداری مقصد وی او تارک ته يی سزا ميلاويږی
واجب ته فرض فريضه حتم لازم وايی

## 2 ـ مندوب

په لغت کی هغه چاته وايی چی دعوت ورته شوی وی
په شريعت کی هغه عمل ته وايی چی شارع پری حکم کړی وی ليکن په لازمی طور سره نه لکه د نفلی مونځونه
زما پدی قول سره «ما أمر به الشارع»؛ ( شارع پری حکم کوی) دی سره محرم مکروه او مباح خارج شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پدی قول سره چی په لازمی طور سره پری شارع حکم نه وی کړی
دی سره واجب خارج شو
او د مندوب ادا کونکی ته ثواب میلاییږی کله چی تابعداری یی غرض وی
او پریخودونکی ته سزا نشته
دیته سنت مسنون مستحب او نفل وایی

**3 – محرم :** په لغت کی هغه څه ته وایی چی منع تری شوی وی
په اصطلاح کی هغه عمل چی شارع تری په حتمی طور سره منع کړی
وی لکه د مور او پلار نافرمانی کول
زما پدی قول سره چی شارع تری منعه کړی وی واجب مندوب او مباح
خارج شول

زمونږ دی قول سره چی دی نه به منع حتمی نه وی دی سره مکروه خارج
شو
د محرم ترک کونکی ته ثواب میلاویږی چی کله یی تابعداری د شریعت
مقصد وی او کونکی ته یی عذاب میلاویږی
او دیته محظور او ممنوع هم وایی
.
**4 – مکروه** په لغت ناپسند شی ته وایی ( هغه شی چی نفرت ورسره
کولی شی )
په اصطلاح کی هغه عمل ته وایی چی شارع ترینه منع کړی وی لیکن منع
حتمی اوضروری نه وی لکه په چپ لاس باندی اغستل خرڅول
زمونږ پدی قول سره چی شارع ترینه منع کړی وی دی سره واجب مندوب
او مباح خارج شول
او دی قول سره چی منع ترینه حتمی نه وی محرم خارج شو
د مکروه پریخودونکی ته ثواب میلاویږی او کونکی باندی څه ګناه نشته

**5 – مباح** په لغت کی ښکاره شی ته او هغه څه ته وایی چی په کولو یی
اجازت وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصطلاح کی هغه عمل ته وایی چی نه پری امر شوی وی نه ترینه منع
لکه په روژه کی دشپی خوراک کول
زمونږ پدی قول سره چی امر پری نه وی شوی واجب او مندوب خارج شو
زمونږ پدی قول سره چی منع ترینه نه وی شوی محرم او مکروه خارج
شو

زمونږ دا قول چی بذاته به پری امر نه وی شوی یا به تری منع نه وی
شوی د ی سره هغه عمل خارج شو چی هغی باندی امر شوی وی ځکه
چی هغه د مامور لپاره وسیله وی یا ترینه منع شوی وی ځکه هغه د منهی
لپاره وسیله وی لیکن په اصل کی پدی سره دی نه د مباح اطلاق نه لری
کیږی
او مباح ترڅو چی په خپل حالت وی نه پری ثواب مترتب دی او نه ګناه
دی ته حلال او جایز هم وایی

## احکام وضعیه

احکام وضعیه هغه علامات دی چی شارع د یو عمل د ثبوت یا نفی یا
قبولیت او فساد لپاره ټاکلی دی
دی څخه صحت او فساد هم دی

### 1 – صحیح : په لغت کی د مرض او بیماری نه پاک ته وایی

په اصطلاح کی هغه عبادت یا معاملی ته وایی چی په کولو باندی اثار
مترتب کیږی ( یعنی د کولو څه اثر یی وی )
د عباداتو څخه صحیح هغه عمل دی چی ذمه داری پری لری شی ( د
انسان نه ) او دشریعت حکم پری تکمیل شی
په معاملاتو کی صحیح هغه عمل دی چی په وجود ( شته والی) باندی یی
اثار مترتب شی ( یعنی چی دا عمل باطل ندی ) لکه په اغستلو خرڅولو
کی د ملکیت حاصلیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هیڅکله یو شی صحیح نشی کیدای تر څو چی هغی کی ټول شرطونه وجود ونه لری او ټول موانع ختم نشی
ددی مثال په عباداتو کی: چی مونځ په خپل وخت باندی وکړی شروط او ارکان او واجبات یی پوره ادا کړی
ددی مثال په معاملاتو کی : داسی تجارت وکړی چی شروط پکی وی او موانع پکی نفی وی
نو کله چی د شروطو څخه یو شرط نه وی یا یو مانع موجود وی نو عمل نشی صحیح کیدای
د شرط د نشوالی مثال په عبادت کی : چی یو کس د اودس نه بغیر مونځ وکړی
د شرط د نشوالی مثال په معاملاتو کی :هغه څه خرڅول چی د هغه په لاس ( ملکیت کی نه وی )

مثال د مانع د موجودوالی په عبادت کی : په مکروه وخت کی نفل مونځ کول
مثال د مانع د وجود په معاملاتو کی : چی یو کس د جمعی د اذان نه پس څه شی
خرڅ کړی
.

## 2 – فاسد

په لغت کی د ضایع کیدو په وجه د یو ختم شوي شي ته وایی
او په اصطلاح کی هغه عبادت او معامله ته وایی چی په هغی هیڅ اثر نه کیږی
فاسد د عباداتو څخه هغه دی چی ذمه پری نه بری کیږی او د شریعت حکم پری نه تکمیلیږی لکه د وخت نه مخکی مونځ ادا کول
او فاسد د معاملاتو څخه هغه دی چی اثرات پری نه مرتبیږی لکه د مجهول شی اغستل خرڅول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د عباداتو او معاملاتو شروطو کی هر فاسد محرم دی ځکه دا د الله د حدودو څخه تجاوز کول دی او د هغه د حکمونو سره مذاق کول دی او ځکه چی نبی علیه السلام په هغه چا رد کړی وو چی د ځان نه یی شرطونه جوړ کړی وو په کتاب الله کی نه وو (1)
فاسد او باطل په یو معنی باندی راځی مګـر په دوه ځایونو کی
١ په احرام کی علماو فرق کړی دی چی فاسد هغه دی چی محرم پکی د تحلل اول نه مخکی د ښځی سره جماع وکړی او باطل هغه دی چی د تحلل اول نه مخکی مرتد شی
٢ په نکاح کی علماو فرق کړی چی فاسد په نکاح کی هغه نکاح ده چی د هغی په فساد کی اختلاف وی لکه د ولی نه بغیر نکاح کول او باطل هغه نکاح ده چی د هغه په بطلان باندی اجماع وی لکه د عدت په وخت کی د ښځی سره نکاح کول

---

(1) رواه البخاري «2155» كتاب البيوع، 65 – باب إن شاء رد المصراة.
ومسلم «1504» كتاب العتق، 2 – باب إنما الولاء لمن أعتق

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علم

**د علم تعریف :** د یو شیی پیژندنه لکه څنګه چې هغه دی په قوی پیژندلو سه لکه ددی خبری علم چی ټول د جز نه غټ وی او په عبادت کی نیت شرط دی
زمونږ پدی قول سره «إدراك الشيء»؛( د یو شی پیژندنه) دی سره ی یو شي نه پیژندل خارج شول او دی ته جهل بسیط وایی مثال په طور یو چا نه پوښتنه وشی د بدر غزا په کوم کال واقع شوی وه هغه ووایی ما ته پته نشته

زمونږ پدی قول سره «على ما هو عليه»؛ ( د یو شی په حقیقت سره پیژندل) دی سره د یو شی پیژندل پداسی توګه چی د واقع خلاف وی خارج شول او دی ته جهل مرکب وایی
د مثال په طور چا نه پوښتنه وشه چی غزوه بدر کوم کال باندی واقع شوی وه هغه ووایی د هجرت په دریم کال
زمونږ پدی قول سره «إدراكاً جازماً»؛ ( د یو شی په حتمی طور سره پیژندل ) دی سره ادراک غیر جازم خارج شو لکه احتمال وی چی کیدای شی هغه چی څنګه دیو شی باره کی علم لری هغه شان نه وی نو دیته علم نه وایی بیا که چیرته ددوه احتمالونو څخه یو د هغه په ګمان کی راجح وو هغه به ظن وی او مرجوح به وهم وی لیکن کله چی دواړه جانبه برابر وو ( یقین او شک) دیته شک وایی
دی سره واضحه شوه چی د ادراک ( دیو شی پیژندنه ) تعلق دلاندینی شیانو سره دی

**1 – علم :** د یو شی پداسی توګه پیژندنه چی هغه په حقیقت کی همداسی وی .
**2 - جهل بسیط:** د یو شی نه پیژندل په کلی توګه
**3 - جهل مرکب:** د یو شی په غلطه توګه پیژندنه ( څنګه چی تاسره د هغی باره کی علم دی هغه ددی بالکل برعکس وی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4 – ظن:** د یو شی پیژندل لیکن سره د احتمال نه چی ددی برعکس ورته ددینه بهتر نه ښکاری
**5 – وهم:** د یو شی پیژندل سره ددی ګمانه چی ددی برعکس ورته ددی نه ډیر بهتر ښکاری
**6 – شك:** د یو شی پیژندل پداسی توګه چی داوړه جانبه ( د شک او یقین ) جانب برابر وی

## د علم اقسام :

### علم په دوه قسمه دی ۱ ضروری ۲ نظری

**1 – ضروری :** هغه علم دی چی د یو شی باره کی علم لرل ضروری وی چی انسان ته د هغی علم بغیر د استدلال او کوشش نه حاصل وی لکه علم پدی خبره چی ټول شی د جز نه غټ وی ، اور ګرم وی ،محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی
**2 – نطری**: هغه علم چی نظر او استدلال ته حاجت لری ( په خپله نه حاصلیږی ) لکه په مونځ کی د نیت د وجوب باره کی علم لرل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الکلام

## د کلام تعریف:

کلام په لغت کی هغه لفظ ته وایی چی د یو معین معنی لپاره وضع شوی وی ( یعنی یو خاص معنی لری)

په اصطلاح کی هغه لفظ ته وایی چی سامع ته فایده ورکوی لکه الله زمونږ رب دی محمد صلی الله علیه وسلم زمونږ نبی دی

کلام کم ازکم ددوه اسمونو یا یو اسم او فعل نه جوړیږی

د اول مثال : محمد صلی الله علیه وسلم دالله رسول دی ددویم مثال: ودریده محمد

د کلام مفرد کلمه ده او کلمه هغه لفظ دی چی د یو مفرد معنی لپاره وضع شوی وی دا په دری قسمه ده ۱ اسم ۲ فعل ۳ حرف

**أ –اسم :** هغه لفظ چی خپله معنی باندی دلالت کوی او هیڅ زمانی سره تعلق نه لری

دا په دری قسمه دی

**۱:** هغه اسم چی د عموم فایده ورکوی لکه اسما موصوله

**۲:** هغه اسم چی د اطلاق فایده ورکوی لکه نکره کله چی د اثبات په سیاق کی راشی

**۳:** هغه اسم چی د خصوص فایده ورکوی لکه اعلام

**ب – فعل :** هغه لفظ چی په خپله معنی باندی دلالت وکړی او ددریو زمانو څخه د یو زمانی سره تعلق ولری دا به یا ماضی وی لکه فهم یا مضارع لکه یفهم یا امر لکه افهم

«فَهِمَ»، «يَفْهَمُ»، «اِفْهَمْ».

والفعل بأقسامه يفيد الإطلاق فلا عموم له.

او د فعل دری واړه اقسام په اطلاق دلالت کوی عموم پکی نه وی

**ج – حرف :** هغه لفظ چی خپله معنی نه لری بلکی د بل لفظ سره یو ځای کیږی او یو معنی ورکوی ددی مختلف اقسام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1 - الواو:** دعطف لپاره استعمالیږی ددواړو معطوف الفاظو په حکم کی د اشتراک فایده ورکوی او د ترتیب تقاضا نه کوی او د ترتیب نفی هم نه کوی مګـر په دلیل سره

**2 - الفاء:** دا هم د عطف لپاره راځی د دوه معطوف اسماو په حکم کی د اشتراک فایده ورکوی سره د ترتیب او تعقیب نه او کله سببیه هم راځی دی وخت کی د تعلیل لپاره راځی
**3 - اللام الجارّة:** دا ډیری معانی لری د هغی څخه تعلیل تملیک اباحت دی

**4 - علی الجارّة:** دا هم ډیر معانی لری د هغی څخه وجوب دی
د کلام اقسام
په کلام باندی د صدق او کذب د اطلاق کیدو په اعتبار سره کلام په دوه قسمه دی
خبر او انشا
**1 –** خبر هغه کلام دی چی مونږ کولی شو بذاته ورته ریښتیا یا دروغ ووایو
زمونږ پدی قول سره چی دیته مونږ ریښتیا او دروغ ویلی شو دی سره انشا خارج شوه ځکه پدی کی دا ممکن نده ځکه د انشا مدلول هغه څه نه وی چی هغی باره کی مونږ خبر ورکوو دی وجی نه دا امکان پکی نه وی چی ریښتیا به وی یا دروغ

زمونږ پدی قول سره . «لذاته»؛ ( خبر کی صدق او کذب بذاته امکان نه لری) دی سره هغه خبر خارج شو چی د صدق او کذب احتمال د مخبر به په اعتبار سره نه لری دا پدی وجی چی خبر د مخبر به په اعتبار سره په دری قسمه دی
**١:** هغه خبر چی دروغ ویل ورته ممکن نه وی لکه د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر کله چی سند یی صحیح وی

**٢:** هغه خبر چی ریښتیا ویل ورته ممکن نه وی لکه د شرع یا عقل د وجی نا ممکن خبر ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اول مثال لکه یو کس د نبی علیه السلام نه پس د نبوت ددعوی خبر ورکړی

ددویم مثال : ددوه ضد شیانو باره کی خبر ورکول لکه په یو وخت کی په یوه سترګـه کی د حرکت او سکون خبر ورکول

۳ : هغه دی چی نه ورته ریښتیا ویلی شی نه دروغ دواړه احتمالونه به یا برابر وی یا به یو په بل باندی غالب وی لکه د یو غایب کس د راتلو باره کی خبر ورکول

**2** - والإنشاء: هغه کلام چی ریښتیا یا دروغ ورته ویل ممکن نه وی او دی څخه امر او نهی ده لکه د الله قول
**: {وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً} [النساء: من الآية 36]**
کله به کلام په یو وخت کی خبر او انشا دواړه وی لکه د معاملاتو لفظی صیغی لکه بعت وقبلت ځکه دا د خرڅونکی د نیت په اعتبار سره خبر دی او په اعتبار د واقع کیدو د بیع سره انشا ده
کله د څه فایدی په غرض کلام د خبر په شکل کی راځی لیکن مراد ترینه انشا وی وبالعکس
د اول مثال دالله دا قول دی
**: {وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلاثَةَ قُرُوءٍ} [البقرة: من الآية 228]**
ژباړه : طلاق کړی شوی زنانه به په خپل ځانونو دری حیضه انتظار کوی د الله دا قول یتربصن په شکل د خبر کی دی لیکن مراد ترینه امر دی ددی فایده د مامور به یقینی کول دی ګـویا کی دا یو واقعی امر دی چی د مامور د صفت په توګـه ترینه خبره کیدای شی

او مثال د عکس ( یعنی لفظ د انشا په شکل وی مراد ترینه خبر وی )
دالله دا قول دی .
: {وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطَايَاكُمْ} [العنكبوت: من الآية 12]
ژباړه : او کافران مومنانو ته وایی زمونږ د لاری تابعداری وکړی مونږ به ستاسو ګـناهونو بار کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا قول «ولنحمل»
په شکل د امر کی دی لیکن مراد ترینه خبر دی  یعنی مونږ به ستاسو ګناهونو بار کړو
ددی فایده  د هغه شی لازمی ګرځول دی کوم باره کی چی خبر ورکړی شوی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حقيقت او مجاز

## کلام د استعمال په اعتبار سره په دوه قسمه دی حقيقت او مجاز

**1 – حقيقت :** هغه لفظ دی چی د خپلی معنی لپاره استعمال وی
لکه اسد د يو ښکاری حيوان لپاره استعمالولی شی
زمونږ پدی قول سره (چی مستعمل لفظ دی) دی سره مهمل خارج شو نو مهمل ته حقيقت يا مجاز ويل صحيح ندی
زمونږ پدی قول سره «فيما وضع له»؛ لفظ به په خپله معنی کی استعمال وی ـ( کومی لپاره چی اصل کی وضع شوی وی)
دی سره مجاز خارج شو

**حقيقت په دری قسمه دی لغوی، شرعی ،عرفی .**

**لغوی حقيقت** :هغه مستعمل لفظ چی د خپلی هغی معنی لپاره استعمال وی چی لغت کی ورته وضع شوی وی
زمونږ پدی قول سره چی لغت کی ددی معنی لپاره وضع شوی وی دی سره حقيقت شرعی او عرفی خارج شو
ددی مثال د صلاه لفظ دی اصل کی په لغت کی دا ددعا لپاره وضع شوی دی نو اهل لغت په کلام کی به دا په همدی معنی باندی محمول وی

هغه لفظ چی مستعمل شی د هغی معنی لپاره چی شريعت کی ورله وضع شوی وی
زمونږ دی قول سره چی شريعت کی ورته وضع شوی وی دی سره حقيقت لغوی او عرفی خارج شول
ددی مثال لفظ د صلاه دی په شريعت کی ددی نه مراد هغه اقوال او افعال دی چی تکبير سره شروع کيږی او سلام سره ختميږی نو په کلام د اهل الشرع کی به دا پدی معنی باندی محمول وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حقیقت عرفی :** هغه لفظ چی هغی معنی لپاره استعمال وی کومه معنی چی ورته عرف کی وضع شوی وی
زمونږ پدی قول سره چی عرف کی ورته وضع شوی وی دی سره حقیقت لغوی او شرعی خارج شو
ددی مثال دابه ده په عرف کی ددی لفظ څخه مراد هغه حیوان دی چی څلور ښپی لری نو په کلام د اهل عرف کی به دا پدی معنی باندی محمول وی
ددی تقسیم د پیژندلو فایده دا ده چی مونږ هغه لفظ په هغه معنی باندی حمل کړو د کومی لپاره چی وضع شوی وی نو په استعمال د اهل لغت کی به په حقیقت لغوی باند ی او په استعمال د اهل الشرع کی به په حقیقت شرعی او په استعمال د اهل عرف کی به په حقیقت عرفی باندی حملولی شی

**2 – مجاز:** هغه لفظ دی چی دخپلی معنی ( کومی لپاره چی وضع شوی دی ) نه بغیر د بلی معنی لپاره استعمال وی
لکه اسد چی د یو بهادر سړی لپاره استعمال شی
زمونږ پدی قول سره چی مستعمل به وی دی سره مهمل خارج شو ځکه هغه حقیقت او مجاز نشی کیدای
زمونږ پدی قول سره دبلی معنی لپاره استعمال وی دی سره حقیقت خارج شو
ددلیل نه بغیر د یو لفظ په مجاز باندی حمل کول جایز ندی او دی دلیل ته په علم بیان کی قرینه وایی

د یو لفظ د مجاز لپاره استعمالولو کی شرط داد ی چی د حقیقی او مجازی معنی مابین کی به یو قسم ربط وی
دی لپاره چی تعبیر ترینه صحیح شی دی ارتباط ته په علم بیان کی علاقه وایی
دا ربط به یا په مشابهت کی وی یا دی نه بغیر
که چیرته مشابهت کی وی نو د ی مجاز ته استعاره وایی لکه د بهادر سړی لپاره د اسد لفظ مجازا استعمالول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او كه چيرته دا علاقه ( ربط) د مشابهت د وجی نه وی نو دی مجاز ته
مجاز مرسل وايی كله چی مجاز په كلماتو كی وو او كه مجاز په سند كی
وی نو ديته مجاز عقلی وايی
مثال ذلك في المجاز المرسل: أن تقول: رعينا المطر، فكلمة «المطر» مجاز
عن العشب، فالتجوز بالكلمة.
ومثال ذلك في المجاز العقلي: أن تقول: أنبت المطر العشب فالكلمات كلها
يراد بها حقيقة معناها، لكن إسناد الإنبات إلى المطر مجاز؛ لأن المنبت حقيقة
هو الله تعالى فالتجوز في الإسناد.
د مجاز مرسل د اقسامو څخه په زيادت سره مجاز او په حذف سره دی
مثال د اول ( په زيادت سره مجاز ) دالله تعالی دا قول
**{لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ} [الشورى: 11]** دا كاف زايد دی دی لپاره چی د الله
تعالی د مشابه د نفی كولو
تاكيد وشی
او مثال د مجاز په حذف سره د الله دا قول دی
**{وسئل القرية} [يوسف: 82]** يعنی د كلی والاو نه پوښتنه وكړه نو اهل
دلته مجازا حذف شوی دی
او د مجاز ډير اقسام نور هم دی چی په علم بيان كی ذكر كيږی
په اصول فقه كی د حقيقت او مجاز د ذكر كولو مقصد دادی چی د دلالت د
الفاظو يا حقيقی وی يا مجازی نو ددی دواړو معرفت ته ضرورت وو
والله اعلم

**تنبيه**

په قران او غير قران كی د كلام تقسيم حقيقت او مجاز ته كول د متاخرينو
په نزد مشهور عمل دی او بعضی علما وايی په قران كی مجاز نشته بعضی
وايی مجاز نه په قران كی شته نه په غير قران كی دا قول ابو اسحاق
اسفراايينی او په متاخرينو كی علامه شنقيطی اختيار كړی دی
شيخ الاسلام بن تيميه رح او د هغه شاګرد ابن القيم فرمايی دا اصطلاح د
دری قرونو چی فضيلت والا دی دی نه پس پيدا شوی ده او دوی ددی قول
تاييد په قوی براهينو سره كړی دی چا چی مطالعه كړل پته به ورته ولګی
چی همدا قول حق دی(1)

---

(1) كتاب الإيمان ص 73، ومختصر الصواعق ص 1510.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امر

## د امر تعریف:

امر هغه قول دی چی په طریقه د استعلا سره د یو فعل د کولو تقاضا کوی لکه أقيموا الصلاة وآتوا الزكاة.

زمونږ پدی قول سره ( امر هغه قول دی ) دی سره اشاره خارج شوه اشاری ته امر نه ویل کیږی اګـر چه هغه د امر معنی ورکوی

زمونږ پدی قول سره د یو فعل د طلب تقاضا کوی ) دی سره نهی خارج شوه ځکه نهی د یو شی د ترک کولو تقاضا کوی او د فعل نه مراد ایجاد دی نو دا به هر قول ته شامل وی چی امر پری شوی وی
زمونږ پدی قول سره ( په طریقه د استعلا) دی سره التماس ( درخواست کول ) دعا وغیره خارج شول کوم چی د امر د صیغو څخه په قرینی سره معلومیږی

**د امر صیغی**
**د امر لپاره څلور صیغی مستعمل دی**

**1 - فعل الأمر**، مثال په توګـه : **{اتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ} [العنكبوت: من الآية 45]**
**2 - اسم فعل الأمر**، مثال په توګـه : حيّ على الصلاة.
**3** – هغه مصدر چی د فعل امر قایم مقام وی ، مثال په توګـه : **{فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ} [محمد: من الآية 4]**
**4** – هغه فعل مضارع چی لام امر پری داخل وی، مثال: **{لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ} [المجادلة: من الآية 4]**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله طلب د یو فعل ( یو کار باندی حکم کول) د امر د صیغی نه بغیر هم حاصلیږی د مثال په توګه که یو شی ته فرض واجب مندوب طاعت وویل شی یا د هغی د کونکی صفت شوی وی یا یی د پریخودونکی مذمت بیان شوی وی یا د هغی په کولو باندی ثواب مرتب وی او په پریخودلو یی ګناه مرتبه وی

**دامر صیغه د څه تقاضا کوی :**

د امر صیغه کله چی مطلقا ذکر شی په اصل کی د مامور به ( هغه څه چی امر پری شوی وی )
د وجوب او د هغی په فوری طور سره ادا کولو تقاضا کوی
ددی دلیل چی امر د وجوب تقاضا کوی د الله تعالی دا قول دی : **{فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} [النور: من الآية 63]،**

ژباړه (پس یره دی وکړی هغه کسان چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم خلاف کوی چی د وی ته به فتنه ورسیږی او یا به په دردناک عذاب کی مبتلا شی)

طریقه د استدلال داده چی الله تعالی د رسول الله ص مخالفین ددی نه یرولی دی چی هغوی ته به فتنه ورسیږی او فتنی نه مراد ګمراهی ده

یا به په دردناک عذاب کی مبتلا شی او پداسی امر باندی یره ورکول صرف د واجب د پریخودو په وجه وی نو دا دلیل دی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو کار باندی حکم کول د هغی د وجوب نښه ده

او ددی دلیل چی امر د فوریت( سمدستی ) تقاضا کوی دالله دا قول دی **{فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ} [البقرة: (148)، والمائدة: 48]** ژباړه ( نیکو کی سبقت ( مخکی والی ) وکړی
او مامورات شرعیه ( شریعت چی کومو کارونو باندی حکم کړی ) ټول خیر دی دیته په سبقت کولو باندی حکم پدی کی د سمدستی او فوریت دوجوب دلیل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل دلیل دادی :نبی علیه السلام  د حدیبیه په ورځ د خلکو تاخیر په ذبح او سر ښرولو کی بد وګڼړلی وو او ام سلمه رضی الله عنها ته یی ددی هر څه خبر ورکړی وو چی خلکو ورته تکلیف ورکړی وو (1)
او ځکه چی د یو کار په جلدی سره کولو کی ډیر احتیاط دی ذمه پری بری کیږی او په ورسته کولو کی یی قسم قسم نقصانات دی تر دی چی ډیر واجبات سړی باندی جمع شی بیا یی د ادا کولو څخه عاجز وی

کله امر د وجوب او فوریت څخه ګـرځی کله چی قرینه ( دلیل) موجود وی د وجوب څخه خروج کوی او د مختلفو مقاصدو لپاره راځی د هغی څخه بعضی په لاندی توګـه بیانیږی

**1 – الندب:**( د استحباب لپاره ) لکه دالله دا قول : **{وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ}** [البقرة: 282] ژباړه ( کله چی تجارت کوی نو ګـواه حاضر کړی )  دلته په ګـواه حاضرولو باندی امر د استحباب لپاره دی پدی دلیل سره چی نبی علیه السلام د یو اعرابی څخه اس اغستی وو او ګـواه یی نه وو حاضر کړی (2)

**2 – الإباحة:**( اباحت )  کله چی یو شی باندی امر د هغی د منع څخه وروسته واقع شو یا د هغه شی په جواب کی واقع وو چی هغی باندی د حرام ګـمان وو دی وخت کی اکثر امر د اباحت لپاره وی
د منع څخه وروسته د امر د واقع کیدو مثال د الله دا قول دی
: **{وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا} [المائدة: 2]** ژباړه ( کله چی تاسو حلال شی نو ښکار وکړی )
دلته په ښکار باندی امر د ښکار څخه د منع نه پس واقع شوی دی هغه منع چی پدی قول د الله کی ده

---

(1) رواه البخاري «2731، 2732» كتاب الشروط، 15 -. وأحمد «4/ 326/ 19117».

(2) رواه أبو داود «3607والنسائي في «الكبرى»، «6243» كتاب البيوع، 82 - وأحمد «5/ 215»، وصححه الإلباني في «الإرواء» «1286».

(c) ketabton.com: The Digital Library



**{غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ} [المائدة: 1]** د احرام په حالت کی ښکار مه کوی
نو دا امر د اباحت لپاره شو
او مثال د هغه امر چی د یو شی باره کی واقع شوی وی کوم باندی چی د حرام گمان کیده
د نبی علیه السلم دا قول دی
«افعل ولا حرج» (1)، وکړه څه حرج نشته ) په جواب د هغه صحابه کی یی فرمایلی وو چی د حج په وخت یی د حج د افعالو باره کی تپوس کړی وو کوم چی داختر په ورځ ادا کولی شی ایا مخکی کول یی د یو بل څخه جایز دی (1)

**3 – التهديد:** ( دهمکی ورکول ) لکه دالله دا قول: **{اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ} [فصلت: من الآية 40]**،ژباړه ( وکړی څه چی مو زړه غواړی بیشکه الله ستاسو اعمال وینی )
**{إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارا} [الكهف: من الآية 29]** ژباړه ( بیشکه مونږ د ظالمانو لپاره اور تیار کړی دی )
د امر نه وروسته د وعید ذکر کیدل دلیل دی چی امر د تهدید لپاره دی

امر د فوریت ( سمدستی ) څخه تراخی لپاره هم استعمالیږی

.ددی مثال د روژو قضا ده پدی باندی امر شوی دی لیکن دلیل شته چی دا امر د تراخی ( سمدست نه کول) لپاره د ی عایشه رضی الله عنها فرمایی : ماباندی به د رمضان د روژو قضا وه ما به قضا د شعبان نه مخکی په بله کومه میاشت کی نشوه راوړلی دا درسول الله د وجود د وجی
نو که چیرته تاخیر حرام وی نبی علیه السلام به د عایشی رضی الله پدی عمل باندی سکوت نه وی اختیار کړی (2)

---

(1) رواه البخاري «83» كتاب العلم، 23 – باب الفتيا وهو واقف على الدابة وغيرها.
ومسلم «1306» كتاب الحج، 57 – باب من حلق قبل النحر أو نحر قبل الرمي.
(2) انظر: البخاري «1950» كتاب الصوم، 40 – متى يقضى قضاء رمضان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومسلم «1146» كتاب الصيام، 26 – باب قضاء رمضان في شعبان.

هغه څه چی مامور د هغی نه بغیر نه پوره کیږي

کله چی د مامور به کول په یو شی باندی موقوف وی ( او هغی نه بغیر یی کول ناممکن وی ) نو دغه شی به هم د مامور به په حکم کی وی که مامور به واجب وی نو دا به هم واجب وی او که مامور به مستحب وی نو دا به هم مستحب وی

د واجب مثال د عورت پټول دی کله چی د عورت پټول د کپړی په اغستلو باندی موقوف وی نو کپړه اغستل هم واجب د ی

مثال د مستحب :د جمعی په ورځ عطر استعمالول کله چی د عطرو استعمالول د عطرو په اغستلو موقوف وی نو د هغی اغستلی هم مستحب د ی

او دا قاعده د یوی بلی عامی قاعدی  په ضمن کی راځی هغه داده ( وسایلو حکم د مقاصدو حکم په څیر دی نو د ماموراتو وسایلو هم مامور به د یاو د منهیاتو وسایل منهی عنها دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهی ( د یو شی څخه منع کول )

## د نهی تعریف :

هغه قول چې په طریقه د استعلا سره د یو کار څخه د منع کیدو تقاضا کوی دا په یو خاص صیغی سره چې هغه فعل مضارع ده کله چې لا ناهیه ترینه مخکی راشی لکه دالله تعالی دا قول

**{وَلا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَالَّذِينَ لا يُؤْمِنُونَ بِالآخِرَةِ} [الأنعام: من الآية 150]**. ژباړه ( د هغه چا د خواهشاتو تابعداری مه کوه چې زما ایاتونه دروغ ګڼړی او په اخرت باندی ایمان نه لری

زمونږ پدی قول سره چې دا قول دی دی سره اشاره خارج شوه اشاره نهی نشی کیدای اګر چې د نهی معنی ورکوی
زمونږ پدی قول سره چې د یو شی نه منع به پکی وی دی سره امر خارج شو ځکه امر د یو کار کولو باندی حکم ته وایی
زمونږ پدی قول سره چې په طریقه د استعلا به وی دی سره د رخواست او دعا خارج شوه کوم چې د نهی د معانو څخه دی او دقرینی څخه معلومیږی

زمونږ پدی قول سره چې نهی به په خاص صیغی سره وی چې مضارع ده دی سره هغه امر خارج شو چې د یو کار منع پکی وی لیکن په صیغه د امر وی لکه دع اترک کف وغیره دا الفاظ اګر چې د یو کار څخه د منع کولو لپاره دی لیکن دا په صیغه د امر دی نو دا به امر وی نهی به نه وی کله کله د یو شی څخه منع به بغیر د صیغی د امر څخه وی لکه یو شی ته چې حرام ممنوع قبیح وویلی شی یا یی د کونکی مذمت وکړی شی یا د هغی په کولو باندی ګناه مرتبه وی وغیره وغیره

د نهی صیغی د څه تقاضا کوی ؟
د نهی صیغه په اصل کی د منهی عنه ( هغه شی چې منع تری کړی شوی وی ) د تحریم او فساد اقتضا کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلیل پدی باندی چی نهی د تحریم لپاره وی دالله تعالی دا قول دی
**{وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا} [الحشر: من الآية 7] (**
څه شی چی تاسو ته رسول صلی الله علیه وسلم درکړی هغه واخلی او د
څه نه چی مو منع کړی منع شی ترینه
پس د یو شی څخه منع کیدلو باند ی امر د هغی څخه  د منع کیدلو په
وجوب باندی دلیل دی او دی سره تحریم هم لازمیږی

او پدی باندی دلیل چی نهی د فساد تقاضا کوی ( د هغه عمل د فاسدیدلو چی
منع ترینه شوی وی )
دنبی علیه السلام د ا قول دی
: «من عمل عملاً ليس عليه أمرنا فهو رد» (1)؛
ژباړه ( چا چی یو عمل وکړ هغی باندی زمونږ امر نه وی هغه مردود د
ی)

او د څه نه چی هغه منع کړی نو هغی باندی یی حکم ندی کړی نو مردود
به وی
د مذهب حنبلی قاعده په باره د منهی عنه کی چی ایا دا به باطل وی او که
صحیح سره د تحریم سره
ددی قاعدی وضاحت په لاندی  توګـه دی

**1 –** کله چی نهی د منهی عنه(هغه شی چی منع ترینه شوی وی) ذات ته
متوجه وی یا یی شرط ته نو باطل به وی

**2 –**کله چی نهی  یو خارجی شی ته متوجه وی د منهی عنه د ذات او شرط
سره تعلق نه لری نو باطل به نه وی

مثال د نهی د توجه ذات د منهی عنه ته په عبادت کی : د اخترونو په ورځ
د روژی نیولو نه منع ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1) رواه مسلم «1718» «18» كتاب الأقضية، 8 – باب نقض الأحكام الباطلة ورد محدثات الأمور.

مثال د نهی د توجه ذات ته په معامله کی : د جمعی د اذان نه پس اغستل خرڅول دی

مثال د نهی د متوجه کیدو شرط د عبادت ته : د سړو لپاره د وریښمو اغوستلو څخه منع ځکه عورت پټول د مونځ لپاره شرط دی نو کله چی یی پداسی کپړه باندی پټ کړی چی منع تری شوی وی نو مونځ به یی باطل وی ځکه نهی د عبادت ( مونځ ) شرط ته راګرځی
مثال د نهی د متوجه کیدو شرط ته په معاملاتو کی : د ځناور په ګیډه د بچی خرڅول دی ځکه د مبیعه باره کی علم لرل د بیع د صحت لپاره شرط دی نو کله چی حمل خرڅ کړی بیع به باطله وی ځکه نهی دلته د بیع شرط ته راګرځی
مثال د نهی د راګرځیدو د عبادت څخه یو خارج شی ته : د سړی لپاره د وریښمو د پګړی څخه منع ده نو کله چی هغه د وریښمو د کپړی سره مونځ وکړی مونځ یی نه باطلیږی ځکه نهی دلته د مونځ ذات او شرط ته ندی متوجه
مثال د نهی د متوجه کیدو یو خارجی امر ته په معامله کی : د دهوکی څخه منع ده کله چی یو کس د دهوکی سره یو شی خرڅ کړی نو بیع به باطله نه وی ځکه نهی د بیع ذات او شرط ته نده متوجه

کله نهی د تحریم نه علاوه نورو معانو لپاره استعمالیږی کله چی قرینه موجود وی
ددغی معانو څخه بعضی په لاندی ډول دی

**1 - الكراهة: کراهت :** مثال یی د نبی علیه السلام دا قول دی «لا يمسنّ أحدكم ذكره بيمينه وهو يبول» ژباړه ( ندی نیسی پتاسو کی یو تن خپلی شرمګاه لره په ښی لاس کله چی متیازی کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهور علما فرمایی : دلته نهی د کراهت لپاره ده ځکه شرمګاه د انسان د بدن حصه ده او د نهی حکمت د لاس پاک ساتل دی

**2 - الإرشاد: ارشاد** ( لارښودنه ) مثال یی د نبی علیه السلام دا قول دی ( هغه معاذ ته فرمایلی وو د هر مونځ نه پس دا دعا لوستل مه پریږده
«لا تدعن أن تقول دبر كل صلاة: اللهم أعنّي على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك».
د امر او نهی په خطاب کی څوک داخلیږی ؟
د امر او نهی په خطاب کی مکلف شخص داخلیږی او هغه هر بالغ عاقل کس دی

زمونږ پدی قول سره چی بالغ به وی دی سره ماشوم خارج شو نو ماشوم په امر او نهی باندی د بالغ پشان مکلف نه وی البته هغه ته په عباداتو باندی امر کولی شی چی په طاعت باندی عادت یی جوړ شی
او د ګناهونو څخه منع کولی شی چی د هغی ترک یی عادت وګرځی
زمونږ پدی قول سره چی عاقل به وی مجنون خارج شو ځکه هغه په امر او نهی باندی مکلف ندی البته هغه به منع کولی شی چی په بل چا باندی ظلم یا فساد ونه کړی او که یو مامور به ادا کړی نه تری صحیح کیږی ځکه هغه پکی د تابعداری نیت نه کوی
دی قاعدی باندی دا اعتراض نه واردیږی چی د ماشوم او لیونی په مال کی خو زکات واجب دی ځکه د زکات او مالی حقونو وجوب د څو معینو اسبابو سره تعلق لری کله چی وجود ولری حکم هم وجود لری نو پدی کی کتنه اسبابو ته ده نه فاعل ته
په امر او نهی باندی مکلف والی کی مسلمانان او کافر دواړه شامل دی البته د کافر څخه د کفر په حالت کی د مامور به ادا کول نه قبلیږی ځکه الله فرمایی: **{وَمَامَنَعَهُمْ أَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلاّ أَنّهُمْ كَفَرُوا بِاللّهِ وَبِرَسُولِه} [التوبة: من الآية 54]**.ژباړه ( دوی ندی منع کړی چی ددوی څخه صدقات قبول کړی شی مګر دی چی دوی په الله او رسول باندی کفر کړی دی )
او کله چی یو کافر مسلمان شی د عمل قضا به پری نه وی الله تعالی فرمایی: **{قُلْ لِلّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَنْتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَا قَدْ سَلَفَ} [الأنفال: من الآية**

(c) ketabton.com: The Digital Library



38ژباړه ( ووایه دی کافرانو ته که چیرته دوی منع شی دوی ته ته به تیر ګناهونه معاف شی
او نبی علیه السلم عمرو بن العاص ته فرمایلی وو: «أما علمت یا عمرو أن الإسلام یهدم ما کان قبله» ( تاته پته نشته چی اسلام مخکنی ټول ګناهونه ختموی
البته کافر چی کله د کفر په حالت کی مړ شی د مامور به اعمالو په ترک به ورته سزا میلاویږی الله تعالی د مجرمانو جواب په قران کی نقل کړی کله چی هغوی څخه پوښتنه وشی چی څه شی په اور کی اچولی یی
**{مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ} [المدثر:42] {قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ} [المدثر:43] {وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ} [المدثر:44] {وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَائِضِينَ} [المدثر:45] {وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ} [المدثر:46] {حَتَّى أَتَانَا الْيَقِينُ} [المدثر:47]**
هغوی به وایی مونږ مونځ نه کوو مسکین ته مو خوراک نه ورکوو د مسخره کونکو ملګری وو د قیامت د ورځی نه منکر وو تر دی چی مونږ باندی مرګ راغلی

## د تکلیف موانع

د تکلیف ( یعنی د انسان په یو عمل باندی مکلف کیدو ) لپاره موانع دی د هغی څخه بعضی په لاند ی ډول دی
جهل نسیان اکراه ( څوک مجبوره کول)
نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی
: «إن الله تجاوز عن أمتي الخطأ والنسیان وما استکرهوا علیه» (2). ژباړه ( بیشکه الله تعالی زما امت ته غلطی نسیان ( هیریدل) او هغه څه چی دوی پری مجبور کړی شی معاف کړی دی
جهل عدم علم ته وایی کله چی یو مکلف د حرام شی ارتکاب وکړی او تحریم ورته نه وی معلوم هیڅ ګناه پری نشته

---

(1) رواه مسلم «121» کتاب الإیمان، 54 - باب کون الإسلام یهدم ما کان قبله وکذا الهجرة والحج.

(2) رواه ابن ماجه «2043، 2045» کتاب الطلاق، 16 - باب طلاق المکره والناسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



والبهقي «6/ 84» كتاب الإقرار، باب من لا يجوز إقراره. قال العجلوني في «كشف الخفاء» «1/ 523/ 1393»: حسنه النووي في «الروضة» و «الأربعين

لکه څوک چې په مونځ کې خبرې وکړی او دا ورته نه وی معلوم چې مونځ کې خبری کول حرام دی
کله چې د واجب په وجوب باندی د جهل د وجې پریږدی نو قضا پری لازم نده کله چې وخت یی تیر شوی وی ځکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه کس ته چې مونځ یی په صحیح طریقی سره نه ادا کوو هغه ته یی د نورو مونځونو په قضا باندی حکم ونه کړ بلکی ددی حاضر مونځ د اعادی حکم یی ورته

او نسیان د یو معلوم شی څخه د زړه غافلیدلو ته وایی کله چې یو حرام شی په نسیان سره وکړی نو هیڅ گناه پری نشته لکه چې څوک د روژی په حالت کی په هیره سره خوراک وکړی او کله چې د نسیان د وجی یو واجب پریږدی نو هیڅ گناه پری نشته لیکن کله چې ورته رایاد شی قضا به یی رواړی دا د نبی علیه السلام ددی قول د وجی نه

«من نسي صلاة فليصلها إذا ذكرها» (1).ژباړه ( چانه چې مونځ هیر شو پس ودی کړی کله چې یی رایا د شی )
**اکراه :** د یو کس په هغه څه باند ی مجبوره کول چې هغه یی کول نه غواړی ، پس څوک چې د یو حرام شی په کولو باندی مجبور شو هغه باندی هیڅ نشته لکه څوک چې د کفر اختیارولو باندی مجبور کړی شی او زړه یی په ایمان مطمین وی او څوک چې د یو واجب په ترک باندی مجبوره شو هغه باندی هیڅ نشته البته داکراه د زایله کیدو نه وروسته به قضا راوړی لکه یو کس د مونځ په ترک باندی مجبوره شو تر دی چې وخت یی تیر شو نو ده باند ی یی قضا ضروری ده کله چې اکراه زایله شوه
او دا ټول موانع دالله په حق کی دی ځکه دا په مغفرت او رحمت باندی مبنی دی هر چې د بنده گانو حقونه دی نو ددی په وجه د هغی ضمانت نه ساقطیږی کله چې صاحب حق راضی شوی نه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1) رواه البخاري «597» كتاب مواقيت الصلاة، 37 – باب من نسي صلاة فليصليها إذا ذكرها ولا يعيد إلا تلك الصلاة.

ومسلم «684» كتاب المساجد، 55 – باب قضاء الصلاة الفائتة واستحباب تعجيل قضائها.

# العام

## د عام تعريف :

عام په لغت کی شامل ته وایی
په اصطلاح کی هغه لفظ ته وایی چی بغیر د حصر نه خپلو ټولو افرادو ته شامل وی لکه : **{إِنّ الأبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ} [الانفطار:13]**
زمونږ پدی قول سره چی ټولو افرادو ته به شامل وی دی سره هغه لفظ خارج شو چی یو فرد ته شامل وی لکه علم او نکره په سیاق د اثبات کی لکه د الله دا قول
تعالی: **{فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ} [المجادلة: 3]** دی ایت کی رقبه ( غلام ) ټولو افرادو ته شامل نده بلکی د ی نه مراد یو غیر معین فرد دی
او زمونږ پدی قول سره چی بغیر د حصر نه هغه لفظ خارج شو چی ټولو افرادو ته په حصر سره شامل وی لکه اسما عدد سل ،زر وغیره

## د عموم صیغی :

### د عموم ټولی صیغی شپږ دی

**1 –** هغه صیغه چی په ماده سره په عموم دلالت کوی لکه کل جمیع کافه قاطبه عامه لکه دالله دا قول
: **{إِنّا كُلّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ} [القمر:49]**

**2 -** أسماء شرط؛ لکه د الله تعالی دا ارشادات : **{مَنْ عَمِلَ صَالِحاً فَلِنَفْسِهِ} [الجاثية: من الآية 15] {فَأَيْنَمَا تُوَلّوا فَثَمّ وَجْهُ اللّهِ} [البقرة: من الآية 115**

**3 -** أسماء استفهام ؛ لکه د الله پدی قول کی : **{فَمَنْ يَأْتِيكُمْ بِمَاءٍ مَعِينٍ} [الملك: من الآية 30]**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه ( څوک دی چی راولی تاسو ته اوبه ) **{مَاذَا أَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِينَ}** **[القصص: من الآية 65]**ژباړه ( تاسو د پیغمرانو دعوت ته څه جواب وکړو ) **{فأين تذهبون}** **[التكوير: 26]**.ژباړه ( تاسو چیرته ځی )

**4 -** الأسماء الموصولة؛اسما موصوله لکه دی قول د الله کی : **{وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ}** **[الزمر:33]**. ژباړه ( چا چی ریښتیا راوړل او د هغی تصدیق یی وکړ پس همدوی متقیان دی )
**{وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا}** **[العنكبوت: من الآية 69]**.ژباړه ( کومو کسانو چی زمونږ باره کی کوشش وکړ مونږ به ورته خامخا زمونږ لاری وښایو **{إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِمَنْ يَخْشَى}** **[النازعات:26]**. ژباړه ( بیشکه پدی کی عبرت دی د هغه چا لپاره چی د اخرت نه یریږی
**{وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ}** **[آل عمران: من الآية 129]**.ژباړه ( او د الله لپاره هغه څه دی چی په اسمانونو او ځمکو کی دی )

**5 –** نکره چی کله د نفی نهی شرط استفهام انکاری په سیاق کی راشی لکه دالله دا ارشادات یی مثال دی:
: **{وما من اله الا الله}** **[آل عمران: 62]**( او نشته لایق د عبادت مګـر الله دی ) **{وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً}** **[النساء: من الآية 36]**.( دالله عبادت وکړی او هغه سره هیڅ مه شریکوی **{إِنْ تُبْدُوا شَيْئاً أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيماً}** **[الأحزاب:54]** که تاسو څه شی ښکاره کوی یا یی پټوی پس بیشکه الله په هر شی باندی علم لری

( **{مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِضِيَاءٍ أَفَلا تَسْمَعُونَ}** **[القصص: من الآية 71]**
څوک دی دالله نه علاوه چی تاسو ته رڼا درکړی ایا تاسو خبره نه اوری
**6 –** هغه اسم چی د اضافت په وجه پکی تعریف پیدا شوی وی برابره ده که مفرد وی یا جمع مثال په توګـه دالله دا قول
: **{وأذكروا نعمة الله عليكم}** **[أعراف: 74]** ( یاد کړی د الله نعمت په تاسو باندی )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**7 –** هغه اسم چی ال استغراقی پری داخل وی برابره ده کی مفرد وی یا جمع لکه دالله دا قول او دا قول

: **{وَخُلِقَ الإِنْسَانُ ضَعِيفاً} [النساء: من الآية 28]**. انسان کمزوی پیدا شوی دی **{وَإِذَا بَلَغَ الأَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِم} [النور: من الآية 59]**. کله چی ستاسو ماشومان بلوغ ته ورسی نو اجازت دی غواړی لکه څنګه چی ددوی نه مخکی خلکو اجازت غوښتی دی
هر چی ال عهدی دی نو دی کی به معهود ته کتلی شی که هغه عام وی نو معرف به هم عام وی او که هغه خاص وی نو معرف به هم خاص وی
مثال د عام د الله دا قول دی کله چی ستا رب پریشتو ته وویل زه د خټی څخه یو انسان پیدا کونکی یم
کله چی زه هغه برابر کړم او روح پکی واچوم نو تاسو ورته سجده وکړی نو فریشتو ټولو سجده وکړه
**{إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَراً مِنْ طِينٍ} [صّ:71] {فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ} [صّ:72] {فَسَجَدَ الْمَلائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ} [صّ:73]**

مثال د خاص دالله دا قول دی**{كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَى فِرْعَوْنَ رَسُولاً} [المزمل: من الآية 15] {فَعَصَى فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ فَأَخَذْنَاهُ أَخْذاً وَبِيلاً} [المزمل:16]**
لکه څنګ چی مونږ فرعون ته یو رسول لیګـلی وو پس فرعون ددغی رسول نافرمانی وکړه نو مونږ په سخت رانیولو سره راونیو

هر چی معرف په هغه ال سره دی چی د بیان جنس لپاره وی نو دی کی دافرادو عموم نه وی کله چی ته ووایی الرجل خير من المرأة، أو الرجال خير من النساء سړی د ښځی نه بهتر دی یا بالعکس نو ددی مراد دا ندی چی هر فرد د سړو د هر فرد د ښځو څخه بهتر دی بلکی مراد دادی چی دا جنس ددغی جنس نه بهتر دی ځکه بعضی زنانه خو د بعضی سړو نه بهتری وی

**په عام باندی عمل کول**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عام لفظ په عموم باند ی تر هغه پوری عمل کول واجب دی ترڅو چی یی تخصیص نه وی شوی ځکه د قران اوحدیث په نصوصو باندی دهغی ددلالت مطابق عمل واجب دی تر دی چی دلیل د هغی برخلاف راشی

او کله چی عام د یو خاص سبب لپاره راغلی وی نو د هغی په عموم به عمل کولی شی ځکه عبرت عموم لفظ لره دی نه خصوص سبب لره مګر که دلیل راشی او ددغی عام تخصیص وکړی او دغی سبب پوری یی خاص کړی کوم باره کی چی وارد دی نو دا به بیا همدغی پسی خاص وی مثال د هغه عام چی په تخصیص یی هیڅ دلیل نشته ایات د ظهار دی ددی سبب نزول د اوس بن صامت ظهار دی لیکن حکم د هغه او عامو خلکو باره کی عام دی
او مثال د هغه عام چی په تخصیص باندی یی د نبی علیه السلام دا قول دلیل دی
«لیس من البر الصیام في السفر» (1)، په سفر کی روژه نیول نیکی نده ددی سبب دا وو چی نبی علیه السلام په سفر وو نو ګڼه یی ولیده او یو کس یی ولیده چی خلک پری سوری شوی وی ویی فرمایل دا څه شی دی؟ هغوی وویل روژه دار دی نبی علیه السلام وفرمایی په سفر کی روژه نیول نیکی نده نو دا عموم خاص دی په هغه چا پوری چی دهغه حال ددی سړی د حال پشان وی یعنی په سفر کی پری روژه سخته وی او ددی د تخصیص دلیل دا دی چی نبی علیه السلام به په سفر کی روژه نیوله کله چی به پری مشقت نه وو او نبی علیه السلام هغه کار نه کوی چی هغه نیکی نه وی (2)

---

(1) رواه البخاري «1946» كتاب الصوم، 36 – باب قول النبي صلى الله عليه وسلم لمن ظلل عليه واشتد الحر: ليس من البر الصوم في السفر.
ومسلم «1115» كتاب الصوم، 15 – باب جواز الصوم والفطر في شهر رمضان للمسافر في غير معصية إذا كان سفره مرحلتين فأكثر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(2) انظر: البخاري «1945» كتاب الصوم، 35 – باب.
ومسلم «1122» كتاب الصيام، 17 – باب التخيير في الصوم والفطر في السفر.

# الخاص

**خاص په لغت کی :** د عام ضد دی
او په اصطلاح کی هغه لفظ دی چی په یو محصور شخص یا عدد باندی دلالت کوی لکه اسما اعلام اسما اشاره اسما عدد
زمونږ پدی قول سره چی محصور به وی دی سره عام خارج شو
او تخصیص په لغت کی د تعمیم ضد دی
او په اصطلاح کی د عام څخه د بعضی افرادو ویستلو ته وایی
مخصص په کسره د صاد سره کونکی د تخصیص ته وایی او هغه شارع دی او ددی اطلاق په هغه دلیل هم کیږی کوم باندی چی تخصیص حاصلیږی
او د تخصیص دلیل په دوه قسمه دی متصل منفصل
**متصل :** هغه دلیل تخصیص دی چی پخپله مستقل نه وی ( بل شی ته یی حاجت وی )
**منفصل :** هغه دلیل تخصیص دی چی بل شیی ته یی ضرورت نه وی او په خپله پوره وی
**د مخصص متصل اقسام**
١ **: استثنا:** په لغت کی د ثنی نه ماخوذ دی او ثنی دیو شی بل ته واپس کولو ته وایی لکه د رسی ( پړی ) راټولول
په اصطلاح کی : د عام بعضی افراد د عام د حکم څخه په الا یا ددی پشان نورو حروفو سره ویستل لکه دالله دا قول
**{إِنَّ الْأِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ} [العصر:2] {إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ} [العصر:3]**
ژباړه ( بیشکه هر انسان په نقصان کی دی مګر هغه کسان چی ایمان یی راوړی نیک عملونه کوی او په حق او صبر باندی یو بل ته نصیحت کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ پدی قول سره چی په الا او ددی پشان نورو حروفو سره دی سره تخصیص په شرط سره خارج شو

**د استثنا شرطونه**

د استثنا د صحت لپاره بعضی شرطونه دی چی هغه په لاندی ډول بیانیږی

**1** –مستثنی به د په مستثنی منه سره متصل وی ( پیوست به وی ) یا په حقیقت کی یا حکما

پس متصل حقیقتا هغه دی چی د مستثنی منه سره پیوست وی او ددواړو مابین کی څه جدا والی نه وی

او متصل حکما هغه دی چی د مستثنی او مستثنی منه مابین کی پداسی شی سره جدا والی راشی چی دفع کول یی دانسان په طاقت کی نه وی لکه ټوخی کول هوسلی کول

لیکن که چرته پداسی شی سره یی مابین کی جدایی راشی چی دفع کول یی ممکن وی یا سکوت وی نو استثنا به صحیح نه وی

لکه یو کس ووایی : زما غلامان ټول ازاد دی ، بیا چپ شی یا بله خبره شروع کړی بیا ووایی مګـر سعید نو دا استثنا به صحیح نه وی او ټول غلامان به ازادولی شی

او یو بل قول دادی چی د سکوت سره استثنا درست ده یا د فاصل سره کله چی خبره یوه وی ددوی دلیل د ابن عباس رضی الله عنهما دا حدیث دی چی نبی علیه السلام د فتح مکه په موقع باندی وفرمایل

: «إن هذا البلد حرمهُ الله یوم خلق السموات والأرض، لا یعضد شوکه ولا یختلی خلاه»، فقال العباس: یا رسول الله إلا الإدّخر فإنه لقینهم وبیوتهم، فقال: «إلا الإذخر» (1).

او دا قول راجح دی ځکه دا حدیث پری دلیل دی

**2** – مستثنی به د مستثنی  منه د نیم نه ډیر نه وی که چیرته یو کس ووایی د هغه په ماباندی لس درهم دی مګـر شپږ نه نو دا استثنا به صحیح نه وی او لس واړه به پری لازم وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ویل شوی دی چی دا شرط ندی بلکی استثنا صحیح کیږی اګـر چه مستثنی د مستثنی منه د نیم نه ډیر وی نو پدی مذکور مثال کی په هغه باندی صرف څلور درهم لازمیږی

(1) رواه البخاري «1349» كتاب الجنائز، 77 – باب الإذخر والحشيش في القبر.

البته که چیرته یی ټول مستثنی کړل نو بیا په دواړه قوله سره استثنا نه صحیح کیږی  که چیری ووایی د هغه په ماباندی لس درهمه قرض دی مګـر لس نه نو لس واړه به پری قرض وی

دا شرط هله دی کله چی استثنا د عدد څخه وی که د صفت څخه وی بیا استثنا په هر صورت کی صحیح ده که ټول مستثنی کوی یا اکثر ددی مثال د الله دا قول دی
: **{إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلاَّ مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ} [الحجر:42]**
او د ابلیس تابعداران د نیم نه ډیر دی او که چیرته ته ووایی ورکړه هغه چا لره چی په کور کی دی مګـر خانانو له نه بیا معلومه شوه دي کور کي ټول خانان دی نو استثنا به صحیح وی او هیڅ به ورته نه ورکړل کیږی

**دویم: شرط** : په لغت کی علامت ( نښی ته وایی)
او دلته د شرط نه مراد د یو شی د بل سره تړل په اعتبار د وجود ( شته والی ) یا عدم ( نشوالی) په ان شرطیه سره یا ددی پشان نورو حروفو سره او شرط به مخصص وی برابره ده که مخکی راشی یا ورسته
مثال د شرط چی مخکی راغلی وی  دالله تعالی دا قول دی
: **{فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ} [التوبة: من الآية 5]**
که دوی توبه ویستله مونځونه یی قایم کړل زکات یی ادا کړ نو دوی پریږدی
مثال د شرط چی وروسته راغلی وی دالله دا قول دی
**{وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا} [النور: من الآية 33]**. او هغه غلامان ستاسو چی تاسو سره لیکل کوی نو لیکل ورسره وکړی که چیرته تاسو ته پدوی کی خیر ښکاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریم : صفت** دی او صفت هغه لفظ دی چی په یو داسی معنی دلالت کوی چی د عام بعضی افراد ورسره خاص کیږی لکه نعت بدل حال
مثال د نعت د الله تعالی دا قول دی
: **{فَمِنْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ مِنْ فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ} [النساء: من الآية 25]** نو د هغه وینزو څخه چی تاسو یی مالکان یی چی هغوی ستاسو د مومنانو زنانه څخه دی
مثال د بدل د الله تعالی دا قول: **{وَلِلّهِ عَلَى النّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً} [آل عمران: من الآية 97]** د الله تعالی په خلکو باندی حج د بیت الله لازم دی د چا چی استطاعت وی دلاری

مثال د حال دالله تعالی دا قول دی : **{وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِناً مُتَعَمّداً فَجَزَاؤُهُ جَهَنّمُ خَالِداً فِيهَا} [النساء: من الآية 93]** او څوک چی مومن لره قصدا قتل کړی نو دهغه سزا جهنم دی چی همیشه به پکی وی

## مخصص منفصل

هغه دی چی په خپله باندی پوره وی او دا په دری قسمه دی تخصیص په حس باندی تخصیص په عقل سره تخصیص په شرع سره
په حس سره د تخصیص مثال دالله تعال قول د په عاد باندی د رالیږلی شوی سیلی باره کی دی: **{تُدَمّرُ كُلّ شَيْءٍ بِأَمْرِ رَبّهَا} [لاحقاف: من الآية 25]** دا سلی هر شی دالله په امر سره ذره ذره کوی
نو حس پدی باندی دلالت کوی چی هغی خو اسمان او ځمکه نه وه خرابه کړی
مثال د تخصیص په عقل سره دالله تعالی دا قول دی **{إِنّهُ عَلَى كُلّ شَيْءٍ قَدِيرٍ} [احقاف: من الآية 33]** بیشکه الله تعالی د هر شی خالق دی
لیکن عقل پدی خبره دلیل دی چی دالله ذات مخلوق ندی او هغه ددی عموم نه مستثنی دی
بعضی علما وایی چی کوم دلیل په حس او عقل سره خاص شی دا به د عام مخصوص څخه نه وی بکلی دا به د هغه عام څخه وی چی خصوص ترینه مراد وی ځکه دا مخصوص پدی کی د متکلم او مخاطب په ذهن کی د شروع نه نه وو او دا مثال دی دهغه عام چی خصوص ترینه مراد وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چی تخصیص په شرع سره دی نو کتاب او سنت د یو بل تخصیص کوی او په اجماع او قیاس سره هم د قران او حدیث تخصیص کیدای شیی .مثال د تخصیص د قران په قران باندی دالله دا قول دی
: **{وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلاثَةَ قُرُوءٍ} [لبقرة: من الآية 228]**.
طلاق ورکړی شوی زنانه به دری حیضه انتظار کوی
ددی ایت تخصیص په لاندی ایت سره شوی دی الله فرمایی :
**{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا} [الأحزاب: من الآية 49]**.
ای مومنانو کله چی تاسو خپلی ښځی مخکی د جماع کولو نه طلاقی کړی نو ستاسو په هغوی باندی څه عدت نشته چی شمار یی کوی
او مثال د تخصیص د قران په سنت باندی دا ایتونه د میراث دی
**{يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنْثَيَيْنِ} [النساء: من الآية 11]**
الله تاسو ته د اولادو باره کی وصیت کوی چی د هلک حصه ددوه جینکو برابره ده
ددی تخصیص پدی قول د نبی علیه السلام سره شوی دی
: «لا يرث المسلم الكافر ولا الكافر المسلم» (1) مسلمان به دکافر څخه میراث نه وړی او نه به کافر د مسلمان څخه
او مثال دتخصیص د قران په اجماع سره دالله تعالی دا قول دی
**{وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً} [النور: من الآية 4]** او هغه کسان چی په پاکو زنانه باندی د زنا تهمت لګوی او بیا څلور ګواهان رانولی نو دوی ته اتیا دری ورکړ ی
ددی تخصیص په اجماع سره شوی دی چی کله غلام تهمت ولګوی نو هغه به څلویښت دری وهلی شی
دا مثال ډیرو اصولیانو بیان کړی دی لیکن دی کی نظر دی ځکه دی کی اختلاف شته او ما دی لپاره صحیح مثال ندی موندلی
او مثال د تخصیص د قران په قیاس سره د الله تعالی دا قول دی
**{الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ} [النور: من الآية 2]**
زنا کاره ښځه او زنا کار سړی هر یو ددوی څخه سل دری ووهی
په قیاس باندی ددی تخصیص شوی دی او غلام زانی لپاره سزا نیمه شوی ده د مشهور قول مطابق به هغه به پنځوس دری وهلی شیی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1) رواه البخاري «4283» كتاب المغاري، 48 – باب أين ركز النبي صلى الله عليه وسلم الراية يوم الفتح.

ومسلم «1614» كتاب الفرائض، بلا باب، أول حديث فيه.

مثال د تخصيص د سنت په قران باندی د نبی علیه السلام دا قول دی

: «أمرت أن أقاتل الناس حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله ...»، الحديث (1).ماته حکم شوی چی خلکو سره هغه پوری قتال وکړم تر څو چی هغوی کلمه ووایی

ددی تخصیص پدی ایت سره شوی دی

**{قَاتِلُوا الَّذِينَ لا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِوَلا بِالْيَوْمِ الآخِرِ وَلا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ} [التوبة:29]** دهغه کسانو سره قتال وکړی چی په الله او د اخرت په ورځ ایمان نه لری نه حراموی هغه څه چی الله او د هغه رسول حرام کړی دی او حق دین تابعداری نه کوی چی دا اهل کتاب دی تر دی چی جزیه ورکړی او هغوی ذلیله وی

او مثال د تخصیص د سنت په سنت سره د نبی علیه السلام دا قول دی
: «فيما سقت السماء العشر» (2) په هغه فصل کی چی په باران سره اوبه شی لسمه حصه ده
ددی تخصیص پدی حدیث سره شوی دی
«ليس فيما دون خمسة أوسق صدقة» (3).د دری سوه صاعه نه کم فصل کی زکات نشته
ما ته د تخصیص د سنت په اجماع سره دی باره کی کوم مثال معلوم ندی
او مثال د تخصیص د سنت په قیاس سره دنبی علیه السلام دا قول دی

---

(1) رواه البخاري «1399» كتاب الزكاة، 1 – باب وجوب الزكاة.

ومسلم «20» كتاب الإيمان، 8 – باب الأمر بقتال الناس حتى يقولوا:

لا إله إلا الله محمد رسول الله ويقيموا الصلاة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(2) رواه البخاري «1483» كتاب الزكاة، 55 – باب العشر فيما يسقى من ماء السماء وبالماء الجاري.

(3) رواه البخاري «1484» كتاب الزكاة، 56 – باب ليس فيما دون خمسة أوسق صدقة.

ومسلم «979» كتاب الزكاة، بلا باب

بی واده هلک چی بی واده جینی سره زنا وکړی نو سل دری دی او یو کال د وطن نه شړل دی (1)

ددی تخصیص په قیاس سره شوی چی غلام د سزا په نیموالی کی په وینزه باندی قیاس شوی دی او د مشهور قول مطابق به د غلام زانی سزا پنځوس دری وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1) رواه مسلم «1690» كتاب الحدود، 3 - باب حد الزنى.

وأحمد «5/ 313/ 22718» ولفظ التغريب عند ابن ماجه «2550» كتاب الحدود، 7 - باب حد الزنا

# مطلق او مقيد

د مطلق تعريف:
په لغت کی د مقيد ضد دی
او په صطلاح کی هغه لفظ چی په حقيقت باندی بغير دقيد څخه دلالت کوی لکه د الله دا قول

**{تحرير رقبة من قبل أن يتماسا} [المجادلة 3]** د يو غلام ازادول دی مخکی ددينه چی مباشرت وکړی

زمونږ پدی قول سره چی په حقيقت به دلالت کوی دی سره عام خارج شو ځکه هغه صرف په عموم باندی دلالت کوی

او زمونږ پدی قول سره چی بغير د قيد نه دی سره مقيد خارج شو ( ځکه هغی کی قيد وی )

تعريف د مقيد : مقيد په لغت کی هغه اوبن يا بل حيوان ته وايی چی زنځير پکی اچولی شوی وی
او په اصطلاح کی هغه لفظ دی چی د قيد سره په يو معنی باندی دلالت کوی
لکه دالله تعالی دا قول
**تعريف المقيد:**
**{فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ} [النساء: من الآية 92]** پس ازادول دی د غلام مومن
زمونږ پدی قول سره چی قيد سره دی سره مطلق خارج شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مطلق باندی عمل کول
په مطلق باندی عمل واجب دی ترڅو چی دلیل د تقیید نه وی راغلی ځکه د کتاب او سنت په نصوصو باندی د هغی ددلالت مطابق عمل پکار دی ترڅو چی دلیل د هغی په خلاف نه وی راغلی
او کله چی یو نص مطلق راغلی او بل مقید نو په مقید به عمل کولی شی کله چی حکم یو وی که حکم مختلف وی نو په مطلق او مقید به جدا جدا عمل کولی شی
مثال د هغه چی حکم پکی یو وی دالله قول په باره د ظهار کی : **{فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا} [المجادلة 3]** پس ازادول د یو غلام دی مخکی د جماع څخه
او قول دالله په باره د کفاره قتل کی
**{فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ} [النساء: من الآية 92]** پس ازادول د غلام مومن دی
دلته حکم یو دی هغه ازادول د غلام دی نو دلته د مطلق مقید کول چی هغه کفاره د ظهار ده په مقید سره چی کفاره د قتل ده واجب دی او په دواړو صورتونو کی دغلام مومن والی ضروری دی
او مثال د هغی مطلق او مقید چی حکم پکی مختلف وی د الله دا قول دی **وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا} [المائدة: من الآية 38]** غل او غله ښځه ددواړو لاسونه قطع کړ ی

او دالله قول په ایت د اوداسه کی

: **{فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ} [المائدة: من الآية 6]** پس وینځی تاسو مخونه خپل او لاسونه تر زنګونو نو پوری

پس دلته حکم مختلف دی ځکه په اول کی د لاس پری کول دی او په دویم کی د لاس وینځل دی نو اولنی ایت به په دویم سره نه مقید کیږی بلکی هغه په اطلاق باندی پاتی وی او دلاس پری کول به د لا س دغوز پوری وی او وینځل به یی د زنګون پوری وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مجمل او مبين

**د مجمل تعريف :** مجمل په لغت کی مبهم ( غير واضح ) او جمع کړی شوی ته وايی
او په اصطلاح کی هغه لفظ دی چی د هغه نه د مراد وضاحت په بل شی باندی موقوف و ی یا په تعيين کی يا په بيان د صفت کی او يا مقدار کی

مثال د هغه مجمل چی په تعيين کی بل شی ( وضاحت کونکی ) ته حاجت لری دالله دا قول دی

**{وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلاثَةَ قُرُوءٍ} [البقرة: من الآية 228].** او طلاق کړی شوی زنانه به دری قره انتظار کوی
دلته د قر لفظ د حيض اوطهر دواړو لپاره په عربی کی استعمال دی نو ددی دواړو څخه د يو معنی سره يی خاص کول دليل ته ضرورت لری
او مثال د هغه چی په بيان دصفت کی بل شی ته حاجت لری دالله دا قول دی
فإن القرء لفظ مشترك بين الحيض والطهر، فيحتاج في تعيين أحدهما إلى دليل.

**{وَأَقِيمُوا الصَّلاةَ} [البقرة: من الآية 43]**، او مونځ قايم کړی پس د مونځ د ودرولو کيفيت مجهول ( نامعلوم ) دی د ضاحت لپاره دليل ته ضرورت لری
او مثال د هغه مجمل چی په بيان د مقدار کی بل موضح ته حاجت لری دالله دا قول دی
زکات ادا کړی.
نو د زکات مقدار دلته نامعلوم دی د وضاحت لپاره بيان ته ضرورت لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مبين تعريف**
مبين په لغت کی ښکاره او واضح کړی شوی ته وايی
او په اصطلا ح کی هغه لفظ دی چی مراد يی يا د اصل وضع په وجه ښکاره دی يا د بيان ( وضاحت ) نه پس

مثال د هغه مبين چی د اصل وضع د وجی تری مراد ښکاره دی لفظ د اسمان ځمکی غر عدل ظلم ريښتيا دی پس همدا کلمات او داسی نور د معنی په لحاظ سره په اصلی وضع سره ( يعنی کله نه چی دا وضع کړی شوی ) واضح دی
او دا د خپلی معنی د وضاحت لپاره بل څه ته ضرورت نه لری
او مثال د هغه مبين چی وضاحت يی وروسته شوی وی ( معنی يی د وضاحت نه وروسته واضحه شوی وی )
دالله داقول دی
**{وَآتُوا الزَّكَاةَ} [البقرة: من الآية 43]**، مونځ قايم کړی او زکات ادا کړی نو دلته د مونځ قايمول او زکات ورکول دواړه مجمل دی ليکن شارع يی وضاحت کړی دی پس دا دواړه لفظونه د وضاحت څخه وروسته مبين ګـرځيدلی دی

**په مجمل باندی عمل کول**

په هر مکلف باندی لازم دی چی په مجمل عمل وکړی کله چی وضاحت يی شوی وی
او نبی عليه السلام د خپل امت لپاره د ټول شريعت اصول فروع بيان کړی دی  تردی چی خپله امت يی په داسی رڼا شريعت پريخی دی چی شپه يی د ورځ په څير ده او د ضرورت په وخت کی يی هر شی بيان کړی دی
او د رسول عليه السلام بيان په قول سره وی يا فعل سره يا په قول او فعل دواړو
.مثال د هغه د بيان په قول سره : د هغه بيانول دی د زکات نصاب او مقدار لره لکه نبی عليه السلام فرمايی

(c) ketabton.com: The Digital Library



«فيما سقت السماء العشر»؛ کوم فصل چی په باران اوبه شی پدی کی عشر دی دا دالله ددی قول دپاره وضاحت دی
بياناً لمجمل قوله تعالى: **{وَآتُوا الزَّكَاةَ} [البقرة: من الآية 43].**
او د هغه په فعل سره د وضاحت مثال : د نبی علیه السلام بیانول دی اعمالو د حج لره د امت مخکی دی لپاره چی د الله ددی مجمل قول وضاحت وشی

**{وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ} [آل عمران: من الآية 97].**
دغه شان د هغه صلی الله علیه وسلم ادا کول دی د کسوف مونځ په خپله طریقه چی دا په حقیقت کی د نبی علیه السلام د یو بل مجمل قول وضاحت دی
«فإذا رأيتم منها شيئاً فصلوا»
**(1).** کله چی تاسو نمر وینی چی ښړ شوی دی نو مونځ وکړی
او د نبی علیه السلام د بیان مثال په قول او فعل دواړو سره : دا دی چی هغه د مونځ طریقه ښودلی ده کله په قول سره
لکه په حدیث د مسی الصلاه کی هغه فرمایلی دی
: «إذا قمت إلى الصلاة، فأسبغ الوضوء، ثم استقبل القبلة فكبر ...»، الحديث
**(2).** کله چی ته مونځ ته ودریږی نو مکمل اودس وکړه بیا قبلی ته مخامخ شه او الله اکبر ووایه
دغه شان په فعل سره یی هم وضاحت کړی دی لکه په حدیث د سهل بن سعد الساعدی کی قام على المنبر فكبر، وكبر الناس وراءه وهو على المنبر ... ، الحديث، وفيه: ثم أقبل على الناس وقال: «إنما فعلت هذا؛ لتأتموا بي، ولتعلموا صلاتي» **(3).**

نبی کریم صلی الله علیه وسلم منبر باندی ودریده نو الله اکبر یی ولوست او خلکو هم د د هغه شاته الله اکبر ووایه بیا هغه خلکو ته متوجه شو او ویی فرمایی ما دا کار دی لپاره وکړ چی تاسو زما اقتدا وکړی او زما د مونځ طریقه زده کړی
الظَّاهِر والمؤَوَّل
**د ظاهر تعریف :** ظاهر په لغت کی واضح او بیان کړی شوی شی ته وایی او په اصطلاح کی : هغه لفظ دی چی پخپله په یو راجح معنی باندی دلالت وکړی سره ددی چی احتمال د معنی مرجوح وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1) رواه البخاري «5785» كتاب اللباس، 2 – باب من جر إزاره من غير خيلاء. ومسلم «911» كتاب الكسوف، 5 – باب ذكر النداء بصلاة الكسوف: الصلاة جامعة.

(2) رواه البخاري «6251» كتاب الاستئذان، 18 – باب من رد فقال: عليك السلام واللفظ له. ومسلم «397» كتاب الصلاة، 11 – باب وجوب قراءة الفاتحة في كل ركعة، وأنه إذا لم يحسن الفاتحة ولا أمكنه تعلمهم قرأ ما تيسر له من غيرها.

(3) رواه البخاري «917» كتاب الجمعة، 26 – باب الخطبة علعى المنبر.

ومسلم «544» كتاب المساجد، 10 – باب جواز الخطوة والخطوتين في الصلاة

مثال يی د نبی کريم صلی الله عليه وسلم دا قول دی «توضؤوا من لحوم الإبل» (1)، ( د اوښانو د غوښو ( د خوړلو) نه پس اودس وکړی

نو ظاهر دادی چی دلته د اودس نه مراد په شرعی طريقی سره د څلورو اندامونو وينځل دی او مرجوح معنی پکی داده چی د و ضو نه مراد مجرد نظافت ( پاکی) ده

زمونږ پدی قول سره چی پخپله به په يو معنی باندی دلالت کوی دی سره مجمل خارج شو ځکه هغه پخپله په معنی دلالت نه کوی

او زمونږ پدی وقول سره چی معنی ره راجحه وی دی سره موول خارج شو ځکه دا د قرينی نه بغير په معنی مرجوح ( غير راجح) باندی دلالت کوی

او زمونږ پدی قول سره چی د معنی مرجوح د احتمال سره دی سره نص صريح خارج شو ځکه هغه صرف د يو معنی احتمال لری

**په ظاهر باندی عمل کول**

په ظاهر باندی عمل کول واجب دی کله چی بل دليل نه وی کوم چی دا د خپل حالت څخه بدل کړی ځکه پدی عمل کول د سلفو طريقه وه او دی کی ډير احتياط دی ذمی لره بری کوی او د قوی تابعداری او عبادت باعث دی

**تعريف المؤول:**

**د موول تعريف :** موول په لغت کی د الاول نه دی په معنی د رجوع ( واپس کولو ) سره دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصطلاح کی هغه لفظ دی چی په مرجوح معنی باندی حمل شوی وی

زمونږ پدی قول سره چی په معنی مرجوح به حمل شوی وی نص ظاهر خارج شو

(1) هذا لفظ أحمد «4/ 352»، وهو عند أبي داود «184» كتاب الطهارة، باب الوضوء من لحوم الإبل من حديث البراء، وغيرهما من المصنفين.

وهو في مسلم «360» كتاب الحيض، 25 - باب الوضوء من لحوم الإبل، من حديث جابر

هر چی نص دی نو هغه صرف د يو معنی محتمل وی او هر چی ظاهر دی نو هغه په معنی راجح باندی حمل وی

**تاويل په دوه قسمه دی : صحيح مقبول ، فاسد مردود**

**1 –** صحيح مقبول هغه تاويل دی چی دليل صحيح پری دلالت کوی لکه د الله تعالی ددی قول تاويل کول( دی معنی ته اړول)
**{وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ}** د کلی والا نه پوښتنه وکړه ځکه کلی ته خو سوال نه متوجه کيږی( اهل د کلی ته سوال متوجه کيږی)

**2 –** فاسد تاويل هغه دی چی دليل پری نه وی لکه معطله چی د الله ددی قول تاويل کوی
: **{الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى} [طه:5]** رحمان ذات په عرش باندی مستوی دی د استوی معنی په استولی ( غلبه) سره کوی ( يعنی الله په عرش باندی غلبه کړی ) ليکن حق خبره داده چی د استوا معنی علو ( اوچتوالی ) او استقرار دی بغير د تکييف ( څنګه والی ) او تمثيل ( مثال بيانول ) نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# النّسْخ

**د نسخ تعریف :** نسخ په لغت کی ازاله کولو او نقلولو د یو شی ته وایی
او په اصطلاح کی د یو حکم شرعی ددلیل یا لفظ اوچتول (رفع کول) په دلیل دکتاب او سنت څخه وی
زمونږ مراد پدی قول سره چی رفع کول د حکم یعنی د هغی بدلول د ایجاب نه اباحت ته یا د اباحت نه تحریم ته مثلا
پدی سره د یو حکم وروسته کیدل خارج شو چی د شرط د نشوالی یا د مانع د شته والی د و جی وروسته شوی وی لکه د زکات وجوب وروسته شی کله چی نصاب کی کمی وی یا د مونځ وجوب کله چی حیض موجود وی نو دی ته نسخ نه وایی

او زمونږ مراد پدی قول سره چی یا به یی لفظ رفع کیږی دی نه مراد ددلیل شرعی لفظ دی ځکه نسخ به یا صرف د حکم وی بغیر د لفظ نه یا به د لفظ او حکم داوړو وی لکه ددی خبری وضاحت مخکی راروان دی
زمونږ پدی قول سره چی په دلیل د کتاب اوسنت دی سره اجماع او قیاس او نور دلایل خارج شول پدی باندی نسخ د حکم نه راځی

او نسخ د عقل په اعتبار سره جایز ده او په شرع کی واقع ده
هر چی د عقل په اعتبار سره د نسخ جواز دی نو دا ځکه چی دالله په لاس کی د هر کار تدبیر دی ځکه هغه رب او مالک دی نو هغه لپاره جایز دی چی د خپل حکمت او رحمت مطابق د خپلو بنده ګـانو لپاره یو حکم تشریع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی نو ایا عقل ددی نه منع کوی چی مالک د خپل بنده لپاره د یو حکم تشریع وکړی؟
دالله د حکمت تقاضا ده چی د خپلو بنده ګانو لپاره هغه څه تشریع کړی چی هغی کی ددین او دنیا مصلحت وی ( ګټه وی ) او مصالح د زمانی او احوالو په بدلون سره بدلیږی کله به یو حکم په یو وخت او حال کی د بنده ګانو لپاره ګټور وی او بیا بل حکم به بل وخت او حال کی د هغوی لپاره ګټور وی
هر چی د نسخ امکانیت په شرع کی دی نو دا دبعضی دلایلو د وجی چی هغه په لاندی ډول دی

وأما وقوعه شرعاً فلأدلة منها:
**1 - {مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا أَوْ مِثْلِهَا} [البقرة: من الآية 106]** کوم ایاتونه چی مونږ منسوخ کړو یا یی درنه هیر کړو نو مونږ د هغی نه غوره راوړو یا د هغی پشان
**2 - {الآنَ خَفَّفَ اللّهُ عَنْكُم}** وس الله په تاسو اسانی وکړه **[لأنفال: من الآية 66] {فَالآنَ بَاشِرُوهُنَّ} [البقرة: من الآية 187]** وس تاسو د خپلو بیبیانو سره جماع وکړی
دا ټول ایاتونه د مخکنی حکم په بدلولو کی نص دی

**3 -** «كنت نهيتكم عن زيارة القبور فزوروها» نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی ما تاسو د قبرونو د زیارت څخه منع کړی وی وس تاسو د هغی زیارت وکړی
دا د قبرونو څخه د منع د نسخ باره کی نص دی

هغه شیان چی نسخ یی نا ممکن دی
په لاندینی شیانو کی نسخ جایز نده

**1 –** اخبار (د څه باره کی خبر ورکول ) ځکه د نسخ محل حکم وی او دیو خبر منسوخوالی نه لازمیږی چی دی دواړو کی یو خبر دروغ وو حالانکه دروغ د الله او رسول په خبرو کی نه وی مګر که چیرته حکم د خبر په صورت کی راغلی وی ( نو بیا یی نسخ ممکن ده )

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه دالله دا قول
**{إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ} [لأنفال: من الآية 65]**
الآية، که وی ستاسو څخه شل صبر کونکی غالب به شی په دوه سوه کافرانو باندی
پس دا خبر دی لیکن معنی یی امر دی ( او امر د انشا د اقسامو څخه دی) دی وجی نه ددی نسخ پدی ایت سره شوی ده ،: **{الآنَ خَفَّفَ اللّهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفاً فَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ}. [لأنفال: من الآية 66].**
وس الله په تاسو اسانی وکړه او الله ته علم وشو چی تاسو کی کمزوری ده نو که چیرته تاسو کی سل کسان صبرناک وی په دوه سوه کافرانو به غالب شی

**2 –** هغه احکام چی په هره زمانه او هر ځای کی ګټور وی لکه توحید دایمان اصول د عباداتو اصول ښه اخلاق لکه صدق عفاف سخاوت شجاعت وغیره نو ددی احکامو نسخ هم ممکن نده دغه شان د قبیح شیانو څخه د نهی نسخ ممکن نده کوم چی هره زمانه کی قبیح وی لکه کفر شرک بد اخلاق لکه دروغ فسق بخل بزدلی وغیره
دا ځکه چی شریعت ټول د بنده ګانو لپاره د ګټی نوم دی او د هغو څخه د مفاسد ددفع کولو نوم

## د نسخ شروط
## شروط النسخ:

هغه خکم چی نسخ یی ممکن وی د هغی د نسخ لپاره بعضی شروط په لاندی ډول ید

يشترط للنسخ فيما يمكن نسخه شروط منها:
**1 –** کله چی دوه دلایلو کی جمع ممکن نه وی که چیرته جمع ممکن شوه نو بیا نسخ نشته ځکه په دواړو باندی عمل کیدای شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2 –** د ناسخ ( هغه دليل چې سابق دليل لره منسوخوی ) د وروسته والی علم او دا به يا نص سره معلوېږی يا د يو صحابی په خبر ورکولو يا په تاريخ سره
مثال د هغه ناسخ چې وروسته والی يی په نص سره ثابت وی د نبی کريم صلی الله عليه وسلم دا قول دی

«كنت أذنت لكم في الاستمتاع من النساء، وإن الله قد حرم ذلك إلى يوم القيامة» (1). ما تاسو ته د ښځو سره د نكاح متعه اجازت کړی وو او بيشکه وس الله تعالی دغه ( متعه ) تر قيامته پوری حرامه کړه
مثال د هغه ناسخ چې تاخر ( ورسته والی) يی په قول د صحابی سره : د عايشه رضی الله عنها دا قول

كان فيما أنزل من القرآن عشر رضعات معلومات يحرمن، ثم نسخن بخمس معلومات (2). د قران داياتونو څخه يو دا هم وو چې لس رضعات ( لس ځله تی رودل) باندی به حرمت ثابتيده بيا دا په پينځه ځله باندی منسوخ شو
مثال د هغه ناسخ چې تاخر يی په تاريخ سره معلوم وی دالله دا قول دی **{الآنَ خَفَّفَ اللّهُ عَنكُمْ}** الآية؛ وس الله تعالی په تاسو اسانی وکړه
پس دالله دا قول چې وس دليل دی په وروسته والی ددی حکم
دغه شان كه چيرته ذكر شی چې نبی عليه السلام د هجرت نه مخکی په يو شی باندی حکم کړی وی او بيا يی د هجرت نه وروسته دهغی نه منع کړی وی نو دويم حکم به ناسخ وی

**3 – د ناسخ ثبوت :** جمهور وايی په ناسخ کی شرط دادی چې دا به د منسوخ نه ډير قوی وی يا به د هغی پشان وی دی وجی نه خبر واحد د متواتر لپاره ناسخ نشی ګـرځيدی اګـر كه ثابت وی ليكن راجح دادی چې په ناسخ کی دا شرط نشته چې هغه د منسوخ نه قوی يا د هغه پشان وی ځکه د
نسخ محل حکم دی او دحکم په ثبوت کی تواتر شرط ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

(1) رواه مسلم «1406» كتاب النكاح، 3 – باب المتعة وبيان أنه أبيح ثم نسخ ثم أبيح ثم نسخ، واستقر تحريمه إلى يوم القيامة.

وأحمد «3/ 405/ 15387».

(2) رواه مسلم «1452» كتاب الرضاع، 6 – باب التحريم بخمس رضعات

## أقسام النسخ:

## د نسخ اقسام

د نص په اعتبار سره منسوخ په درى قسمه دى

**١:** هغه چى حکم يى منسوخ وى او لفظ يى باقى او ددى مثالونه په قران کى ډير دى

مثال يى دا دوه ايتونه دى

**{إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ} [لأنفال: من الآية 65]**، دا پدى ايت سره منسوخ دى : **{الآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفاً فَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ} [لأنفال:66]**

د لفظ نه بغير د حکم د نسخ حکمت دادى چى د تلاوت ثواب باقى وى او امت ته تذکير دى د نسخ په حکمت باندى

**دويم :** هغه چى لفظ يى منسوخ وى او حکم يى باقى لکه د رجم ايت : عمر رضى الله عنه فرمايى الله تعالى په قران کى د رجم باره کى ايت نازل کړى وو مونږ ولوسته او ياد مو کړ رسول الله صلى الله هم رجم وکړ د هغه نه پس مونږ هم نو زه ويريږم چى وروسته به څه خلک راشى وايى به چى قران کى خو د رجم ايت نشته نو دوى به دالله ددى فريضى په ترک کولو سره ګمراه شى او رجم په هغه چا باندى دى چى واده يى کړى وى د سړى او زنانه و ښځه او په هغه باندى د حمل يا اعتراف په وجه دليل قايم شوى وى

او د لفظ د نسخ حکمت دادى چى امت باندى امتحان دى په هغه څه باندى عمل کولو کى چى قران کى يى لفظ نشته او دالله په اياتونو باندى د هغوى

(c) ketabton.com: The Digital Library

١

ایمان مضبوطول دی په خلاف د یهودو کومو چی په تورات کی د رجم دایت د پټولو کوښښ کړی وو

.

(1) رواه البخاري «6829» كتاب الحدود، 30 – باب الاعتراف بالزنى.

ومسلم «1691» كتاب الحدود، 4 – باب رجم الثيب في الزنى

**دریم :** هغه دی چی حکم اولفظ دواړه یی منسوخ وی لکه لس رضعات په حدیث د عایشه کی

د ناسخ په اعتبار سره نسخ په څلو قسمه ده

١: دقران نسخ کول په قران باندی مثال یی دوه ایاتونه د مصابری دی ( مخکی ذکر شول که چیرته تاسو څخه شل صبرناک.....)

٢: نسخ د قران په سنت باندی : ددی لپاره ماته کوم مثال معلوم ندی

٣: نسخ د سنت په قران باندی : ددی مثال د بیت المقدس ته په مونځ کی د متوجه کیدو حکم دی کعبی ته متوجه کیدو سره کوم چی دالله پدی قول سره ثابت دی

**{فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَه} [البقرة: (144)،144، (149)، 150].** پس وګرځوه مخ خپل مسجد حرام طرفته او کوم ځای کی چی تاسو یی د مسجد حرام طرفته مخونه ګرځوی ( په مونځ کی ورته متوجه کیږی)

۴: د سنت نسخ په سنت سره : مثال یی د نبی علیه السلام دا قول دی «کنت نهیتکم

عن النبيذ في الأوعية، فاشربوا فيما شئتم، ولا تشربوا مسكراً» (1).

تاسو می د په لوخو کی د نبیذ جوړولو نه منع کړی وی پس وس تاسو په ټولو لوخو کی څښاک وکړی لیکن نشی یی شی مه څکښی

د نسخ حکمت :

د نسخ ډیر حکمتونه دی بعضی د هغی نه په لاندی ډول دی

**1 –** د بنده ګانو د مصالحو خیال ساتل په تشریع کولو د هغه څه چی د هغو لپاره په دین او دنیا کی فایده مند وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مراعاة مصالح العباد بتشريع ما هو أنفع لهم في دينهم ودنياهم.

**2** – په تشریع کی ترقی او پورته والی تر دی چی د کمال درجی ته ورسیږی

---

(1) رواه أحمد «3/ 13512/237» وأبو يعلى «6/ 3707/373» قال الهيثمي في «المجمع» «5/ 66»: فيه يحيى بن عبد الله الجابر، وقد ضعفه الجمهور، وقال أحمد: لا بأس به، وبقية رجاله ثقات

**3** – په مکلفینو امتحان کول چی ایا دوی د یو حکم څخه د بل حکم تغییر منی او پری راضی کیږی

**4** – په مکلفو امتحان کول چی دوی شکر ادا کړ ی کله چی نسخ د یو سخت حکم په اسان سره وشی او صبر وکړی کله چی یو حکم د اسانی نه مشکل طرفته لاړ شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الأخبار

**د خبر تعریف :** خبر په لغت کی نبا ( خبر ) وایی
او دلته ترینه مراد هغه قول فعل تقریر او وصف دی چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته منسوب وی
او د قول د ډیرو احکامو باره کی خبره تیره شوه
هر چی فعل دی نو ددی ډیر انواع دی

۱:هغه څه چی نبی علیه السلام د د خلقت په بنا باندی کړی وی لکه خوراک څښاک خوب نو ددی څه حکم نشته لیکن کله به د څه سبب د وجی پدی حکم کیږی یا به تری منع کیږی یا به یی یو خاص صفت وی لکه په ښی لاس باندی خوراک کول یا به تری منع راغلی وی لکه په چپ لاس خوراک

۲: هغه څه چی نبی علیه السلام د عادت په بنا باندی کړی وی لکه د کپړو صفت او کفیت نو دا قسم بذاته مباح دی لیکن کله به تری د یو خاص سبب په وجه منع شوی وی یا به پری امر شوی وی

۳:هغه څه چی نبی علیه السلام د خصوصیت په بنا کړی وی نو دا به د هغه سره خاص وی لکه په روژه کی وصال کول ( پرله پسی روژه نیول ) یا د یو ښځی ځان هبه کول هغه صلی الله علیه وسلم ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په خصوصیت باندی به حکم صرف د دلیل په بنیاد وی ځکه اصل خو د نبی علیه السلام تابعداری ده

۴: هغه څه چی نبی علیه السلام د عبادت په توګه کړی وی نو دا په هغه باندی واجب دی ځکه چی دی نه بغیر یی خلکو ته رسول ممکن ندی او بیا وروسته د هغه او زمونږ په حق کی مستحب دی دا د راجح قول مطابق

ځکه د هغه یو عمل د عبادت په نیت کول په مشروعیت د هغی دلیل وی او اصل په دی کی دادی چی ددی په ترک سره ګناه نشته نو مشروع به وی په ترک کولو به یی څه ګناه نه وی او دا د مندوب تعریف دی
لأن فعله تعبداً يدل على مشروعيته، والأصل عدم
ددددی مثال د عایشه رضی الله عنها حدیث دی
أنها سئلت بأي شيء كان النبي صلّى الله عليه وسلّم يبدأ إذا دخل بيته؟ قالت: بالسواك (1)، د هغی څخه پوښتنه وشوه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم به چی کور ته داخل شو په څه شی به یی شروع کوله ؟ هغی وفرمایل: په مسواک
نو کور ته دداخلیدو په وخت کی مسواک استعمالول مجرد فعل دی نو دا به مستحب وی
یو بل مثال

كان النبي صلّى الله عليه وسلّم يخلل لحيته في الوضوء (2). نبی علیه السلام به په اودس کی د ګیری خلال کوو
نو د ګیری خلال کول د مخ په وینځلو کی داخل ندی چی د مجمل بیان وګرځی بلکی دا یو مجرد فعل دی نو مستحب به وی
۵:هغه څه چی نبی علیه السلام د کتاب او سنت د مجمل د بیان لپاره کړی وی نو دا د هغه په حق کی واجب دی دی لپاره چی خلکو ته یی تبلیغ وشی بیا به د د هغه په حق کی او زمونږ لپاره هغه حکم لری کوم چی د مبین وو که هغه واجب وی نو دغه فعل به هم واجب وی او که مستحب وو نو فعل به هم مستحب وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1) رواه مسلم «253» كتاب الطهارة، 15 - باب السواك.
وأبو داود «51» كتاب الطهارة، باب في الرجل يستاك بسواك غيره.
والنسائي في المجتبى «8» كتاب الطهارة، 8 - باب السواك كل حين.
وابن ماجه «290» كتاب الطهارة، سننها، 6 - باب ثواب الطهور.
(2) رواه الترمذي «29، 30» و «31» كتاب الطهارة، 23 - باب ما جاء في تخليل اللحية.

مثال د واجب : د مونځ واجب افعال دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله ددی مجمل قول د بیان لپاره کړی
: **{وَأَقِيمُوا الصَّلاةَ} [البقرة: من الآية 43].**
مثال د مستحب د نبی علیه السلام چی کله د طواف نه فارغ شو دوه رکعته یی د مقام نه شاته ادا کړل دی لپاره چی دالله ددی مجمل قول وضاحت وشی
**{وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلّىً} [البقرة: من الآية 125]**
نبی علیه السلام مقام ابراهیمی ته وړاندی شو او دا ایت یی لوسته او د مقام نه شاته دوه رکعته ادا کول سنت دی

هر چی د نبی علیه السلام په یو شی باندی سکوت اختیارول دی نو دا ددغی شی د جواز دلیل دی برابره ده که قول وی یا فعل
مثال د هغه د سکوت په قول باندی : د هغه اقرار دی د هغه وینزی چی نبی علیه السلام ترینه پوښتنه وکړه الله چیرته دی هغی وویل په اسمان کی
مثال د هغه د سکوت په فعل باندی د هغه اقرار دی هغه صحابی لره چی نبی علیه السلام د یو سریه مشر مقرر کړی وو او په هر رکعت کی به یی قرات په قل هو الله احد سورت باندی ختمولو نبی علیه السلام د صحابه نه پوښتنه وکړه دی نه تپوس وکړی چی دا کار یی ولی کوو هغوی تری پوښتنه وکړه هغه په جواب کی وویل ځکه پدی کی دالله صفات بیان شوی زه خوښه ګڼړم چی ویی لولم نو نبی علیه السلام وفرمایل ده ته خبر ورکړی چی الله تا سره محبت لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

(1) رواه مسلم «1218» كتاب الحج، 10 – باب حجة النبي صلى الله عليه وسلم.
(2) رواه مسلم «537» كتاب المساجد، 7 – باب تحريم الكلام في الصلاة، ونسخ ما كان من إباحة.
ومالك في «الموطأ» «2/ 776/ 1468» كتاب العتق، 6 – باب ما يجوز من العتق في الرقاب الواجبة.

**یو بل مثال :** د نبی علیه السلام اقرار د حبشی ماشومانو چی په مسجد کی یی لوبی کولی دی لپاره چی د هغوی زړونه په اسلام باندی مضبوط شی لیکن هر هغه څه چی د نبی علیه السلام په وخت کی شوی وی او هغه ته نه وی معلوم ددی نسبت به نبی علیه السلام ته نه کیږی البته دا به حجت وی ځکه چی که حرام وی الله به یی بیان کړی وی دی وجی نه صحابه کرامو په جواز د عزل باندی دالله اقرار دلیل پیش کړی دی جابر رضی الله عنه فرمایی
كنا نعزل والقرآن ينزل، متفق عليه (1)، زاد مسلم: قال سفيان: ولو كان شيئاً ينهى عنه لنهانا عنه القرآن. مونږ به عزل کولو او قران نازلیدلو که چیرته د یو شی نه منع وی نو قران به ترینه مونږ لره منع کړی وی

پدی خبره چی دالله تعالی د یو کار باره کی اقرار ( سکوت) حجت دی دادی چی منافقانو به په پټه کوم منکر کارونه کول الله به د هغی انکار کوو او بښکاره کول به یی نو دا دلیل دی چی الله د څه شی نه سکوت وکړی هغه به جایز وی
د خبر اقسام په اعتبار د هغه چا چی اضافت یی ورته شوی وی
**پدی اعتبار سره خبر په دری قسمه دی**
**مرفوع، وموقوف، ومقطوع.**
**1 – مرفوع** هغه خبر دی چی حقیقتا یا حکما یی نبی علیه السلام ته اضافت شوی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس مرفوع حقیقی د نبی علیه السلام قول فعل او سکوت په یو شی باندی دی
مرفوع حکمی هغه دی چی د نبی علیه السلام سنت ، زمانی وغیره ته یی نسبت شوی وی البته خپله یی نه وی کړی
د ځخه د صحابی قول دی چی مونږ ته امر شوی یا مونږ منع کړی شوی یو وغیره لکه دابن عباس رضی الله عنهما دا قول

(1) رواه البخاري «7375» (4) رواه البخاري «454» كتاب الصلاة، 69 - باب أصحاب الحراب في المسجد. =(2) رواه البخاري «5207» كتاب النكاح، 96 - باب العزل.

أُمِرَ الناس أن يكون آخر عهدهم بالبيت، إلا أنه خفف عن الحائض (1).
خلکو ته امر شوی وو چی طواف زیارت وکړ مګـر پدی باب کی د حایضی ښځی سره تخفیف شوی
او قول د ام عطیه
: نهينا عن اتباع الجنائز، ولم يعزم علينا (2). مونږ د جنازی پسی تګ نه منع کړی شو یو البته پدی باب کی راباندی سختی نده شوی

**2 – موقوف** هغه خبر دی چی صحابی ته یی اضافت شوی وی او حکم د رفع ورله ثابت نه وی او د قول راجح مطابق موقوف حدیث حجت دی مګـر که د نص خلاف یا د بل صحابی د قول خلاف راشی که چرته د نص خلاف وی نو نص به قبلولی شی او که د بل صحابی د قول خلاف وی نو دواړو کی چی کوم راجح وی هغه به قبلولی شی
او صحابی هغه چا ته وایی چی د نبی علیه السلام سره یی د ایمان په حالت کی ملاقات شوی وی او د ایمان په حالت کی وفات شوی وی
**3 – مقطوع** هغه خبر دی چی تابعی یا د تابعی نه پس بل چاته یی نسبت شوی وی
تابعی هغه څوک دی چی د ایمان په حالت کی د صحابی سره میلاو شوی وی او په ایمان باندی وفات شوی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خبر اقسام په اعتبار د طرق سره**
**پدی اعتبار سره خبر په دوه قسمه دی**

---

(1) رواه البخاري «1755» كتاب الحج، 144 - باب طواف الوداع.
ومسلم «1328» كتاب الحج، 67 - باب وجوب طواف الوداع وسقوطه عن الحائض.
(2) رواه البخاري «1278» كتاب الجنائز، 30 - باب اتباع النساء الجنائز ومسلم «938» كتاب الجنائز، 11 - باب نهي النساء عن اتباع الجنائز.

**1 – متواتر** هغه خبر دی چی یو کثیر تعداد جماعت روایت کړی وی چی عادت کی د هغوی په دروغو باندی اتفاق کول ممکن نه وی او یو محسوس شی ته یی استناد کړی وی مثال یی د نبی علیه السلام دا قول دی «من كذب عليّ متعمداً فليتبوأ مقعده من النار» (1). چا چی ما باندی قصدا دروغ وتړل نو جهنم کی دی ځان لپاره ځای جوړ کړی

**2 – احاد هغه خبر چی د متواتر پشان نه وی او دا د درجی په لحاظ په دری قسمه دی**
**صحیح، وحسن، وضعیف.**

**صحیح:** هغه حدیث چی یو عادل ، قوی حافظی والا راوی په متصل سند سره روایت کړی وی او د شذوذ او علت قادحه نه خالی وی
**حسن:** هغه حدیث چی درمیانه حافظی والا عادل راوی په متصل سند سره روایت کړی وی د شذوذ علت قادحه څخه خالی وی کله چی یی طرق ډیر وی نو د صحیح لغیره درجی ته رسیږی
**ضعیف :** هغه حدیث چی د صحیح او حسن د شرط څخه خالی وی

دا د حسن درجی ته رسیږی کله چی یی طرق ډیر وی او ددی قابل وی چی د یو بل کمی پوره کړی دی ته حسن لغیره وایی
او دا اقسام د حدیث د ضعیف نه علاوه حجت دی ضعیف حجت ندی لیکن په شواهد وغیره کی ذکر کولو باندی څخه باک نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صِيَغ الأداء:**
د حديث د ادا كولو صيغى
د حديث دپاره تحمل او ادا وى تحمل د بل ځخه د حديث اغستلو ته وايى او ادا بل ته حديث بيانولو ته وايى
د حديث ادا كولو لپاره بعضى صيغى په لاندى ډول دى
**1 - حدثني:** دا د هغه راوى استعمالوى چى د هغه شيخ ( استاذ ) ورته حديث ويلى وى

(1) رواه البخاري «110» كتاب العلم، 38 – باب إثم من كذب على النبي صلى الله عليه وسلم. ومسلم «4» المقدمة، 2 – باب تغليظ الكذب على رسول الله صلى الله عليه وسلم من حديث أبي هريرة.

**2 - أخبرني:** هله راوى استعمالوى كله چى هغه ته شيخ حديث ويلى وى يا هغه په شيخ په مخ كى لوستى وى

**3 - أخبرني إجازة، أو أجاز لي:** د هغه راوى لپاره دى چى حديث يى د لوستلو نه بغير په اجازت سره روايت كړى وى
اجازت ديته وايى چى استاذ شاگـرد ته د حديث په راويت كولو اجازت وكړى اگـر چه په هغه باندى يى نه وى لوستلى
**4 – عنعنه :**په لفظ د عن سره د حديث روايت كولو ته وايى
ددى حكم اتصال دى ليكن كوم راوى چى په تدليس باندى مشهور وى د هغه عنعنه به په اتصال نه حمل كيږى تر څو چى تصريح په تحديث يى نه وى كړى
په علم مصطلح كى د حديث ډير انواع ذكر دى مونږ چى څه ته اشاره وكړه په دى اكتفا پكار ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اجماع

## د اجماع تعریف :

اجماع په لغت کی پخی ارادی او اتفاق ته وایی

په اصطلاح کی د نبی علیه السلام نه پس د امت د مجتهدینو په یو حکم شرعی باندی اتفاق ته وایی

زمونږ پدی قول سره چی اتفاق دی سره د خلاف وجود خارج شو اګر چی دا اختلاف د یو کس وی نو داختلاف د وجود سره اجماع نه حاصلیږی
زمونږ پدی قول سره چی اجماع کونکی به مجتهدین وی دی سره عوام او مقلدین خارج شول ځکه ددوی اختلاف او اتفاق لره څه اعتبار نشته

زمونږ پدی قول سره ددی امت مجتهدین دی سره ددی امت نه علاوه نورو امتونو د علماو اجماع خارج شوه
زمونږ پدی قول سره چی د نبی علیه السلام نه پس دی سره د مجتهدینو اتفاق په عهد د نبی علیه السلام کی خارج شو ځکه دهغه وخت اجماع معتبر نده ځکه دلیل په دغه وخت کی د نبی علیه السلام قول فعل او تقریر وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی وجی نه کله چی صحابیووایی مونږ به دا کار کولو یا هغو به دا کار د نبی علیه السلام په دور کی کولو  دا به د مرفوع حکمی په حکم کی وی اجماع به نه وی
زمونږ پدی قول سره چی اتفاق به په حکم شرعی وی دی سره هغه اتفاق خارج شو چی په حکم عقلی یا عادی باندی وی ځکه دی سره د اجماع څه تعلق نشته ځکه اجماع څخه بحث کول په طور د دلیل شرعی دی

د لاندینی دلایلو په وجه اجماع حجت دی

والإجماع حجة لأدلة منها:١ -  الله تعالی فرمایی**{وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاس} [البقرة: من الآية 143]**
دغه شان مونږ تاسو یو غوره امت ګرځولی یی دی لپاره چی تاسو په خلکو ګواهان شی
د الله دا قول چی په خلکو ګواهان شی دا د هغوی په اعمالو او احکامو باندی ګواهی ته شامل دی او د ګواه قول مقبول وی

**2 - {فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُول} [النساء: من الآية 59]**  کله چی ستاسو  په یو حکم کی اختلاف راشی نو الله او رسول ته یی واپس کړی
دا دلیل دی چی په څه چی د وی اتفاق وکړی هغه به حق وی

**3 –** د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا قول : «لا تجتمع أمتي على ضلالة». (1) زما امت په ګمراهی نه جمع کیږی

**4 –**  دادی چی مونږ وایو د امت په یو شی باندی اجماع به یا حق وی یا باطل که حق وی نو حجت ده او که باطل وی نو دا څنګه کیدای شی چی دا امت چی د ټولو امتونو نه غوره دی په داسی شی اتفاق وکړی چی الله پری راضی نه وی دا ناممکن ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1) رواه الترمذي «2167» كتاب الفتن، 7 – باب ما جاء في لزوم الجماعة، وقال: غريب.
وأبو داود «4253» كتاب الفتن والملاحم، باب ذكر الفتن ودلائلها.
وابن ماجه «3950» كتاب الفتن، 8 – باب السواد الأعظم

## أنواع الإجماع:
## د اجماع اقسام
### اجماع په دوه قسمه ده : قطعی ، ظنی

**1 –قطعی :** هغه اجماع ده چی د امت څخه د هغی واقع کیدل په علم ضروری سره معلوم وی لکه د پینځه مونځونو په فرضیت باندی اجماع د زنی په تحریم اجماع
ددی قسم اجماع نه هیڅوک انکار نه کوی نه یی څوک د حجیت نه انکاری دی ددی مخالفت کونکی کافر دی پدی شرط چی جاهل نه وی

**2 – ظنی** هغه اجماع ده چی په تلاش او لټون سره معلومیږی ددی په ثبوت کی علماو اختلاف کړی دی پدی کی راجح قول د شیخ الاسلام بن تیمیه رحمه الله دی هغه په عقیده واسطیه کی فرمایی

«والإجماع الذي ينضبط ما كان عليه السلف الصالح، إذ بعدهم كثر الاختلاف وانتشرت الأمة». اهـ.
اجماع هغه ده چی سلفو کړی ده ځکه د هغوی نه پس اختلاف ډیر شوی او امت منتشر شوی
او پدی خبره ځانه پوهه کړه چی امت هیڅکله ددلیل صریح صحیح غیر منسوخ په خلاف اتفاق نه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



امت صرف په حق باندی اتفاق کوی کله چی ته یو اجماع د نص خلاف ووینی نو وګوره یا به دلیل غیر صحیح یی یا به غیر صریح یی یا به منسوخ و ی یا به مساله کی خلاف وی تا ته به نه وی معلوم

---

(1) انظر: «شرح العقيدة الواسطية» للمؤلف رحمه الله «2/ 328» طبعة دار ابن الجوزي.

## شروط الإجماع:
## د اجماع شروط
## د اجماع لپاره بعضی شروط په لاندی ډول دی

**1 –** په صحیح سند سره به ثابت وی یا به د علماو مابین کی مشهور وی یا به یی ناقلین ثقه او علم والا وی

**2 –** دی نه مخکی به اختلاف نه وی تیر شوی که د اجماع نه مخکی اختلاف تیر شوی وی دا اجماع نده معتبر ځکه د یو کس په مرګ باندی د هغه قول نه ختمیږی
ځکه اجماع مخکنی اختلاف لره نه ختموی البته د خلاف د واقع کیدو څخه مانعه ده او دا قول ددلیل په اعتبار ډیر راجح دی
او ویل شوی دی چی دا شرط نشته اجماع په دویم عصر کی هم واقع کیدی شی
او ددغی عصر نه پس په راتلونکو خلکو باندی به حجت وی
او دجمهور علماو په نزد په اجماع کی دا شرط ندی چی هغه به صرف په زمانه ددغه مجتهدینو پسی خاص وی بلکی اجماع په مجرد اتفاق د هغوی سره حاصلیږی او ددغی عصر د خلکو او ورستنو خلکو ټولو لپاره مخالفت یی جایز ندی ځکه د اجماع په دلایلو کی د اجماع په یو زمانی پس خاص کول شرط ندی او ځکه چی اجماع ددوی داتفاق په وخت حاصله شوه نو څه شی یی ختموی.؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چی بعضی مجتهدین یو قول یا فعل وکړی او د اهل علمو په مابین کی مشهور شی هغوی یی انکار ونه کړی حالانکه په انکار باندی قدرت لری نو ویل کیږی چی دا هم اجماع ده
او بل قول دادی چی دا حجت دی لیکن اجماع نده
او بل قول دی چی نه اجماع ده او نه حجت دی
او بل قول دی چی که ددغه مجتهدینو زمانه تیره شوه او انکار یی نه وو کړی نو دا اجماع ځکه ددوی د سکوت استمرار تر اخره زمانه پوری دلیل دی چی هغوی موافقت لری او دا قول راجح دی

# القیاس

## د قیاس تعریف

قیاس په لغت کی تقدیر ( اندازه کولو) او مساوات ( برابری) ته وایی
په اصطلاح کی په یو حکم کی د علت د یو والی د وجی اصل دفرع سره یو ځای کول

پس فرع مقیس ( هغه شی چی قیاس کولی شی) دی
او اصل مقیس علیه( هغه چی په کوم باندی بل شی قیاس کولی شی) دی

د حکم نه مراد هغه څه دی چی دلیل شرعی یی اقتضا کوی لکه وجوب تحریم صحت فساد وغیره
علت هغه معنی ده چی هغی د وجی د اصل حکم ثابت دی
او دا څلور ارکان د قیاس دی قیاس د هغه ادله څخه دی چی احکام شرعیه پری ثابتولی شی

د قیاس په حجیت باندی کتاب سنت اقوال صحابه دلیل دی
د قران دلایل په لاندی ډول دی
.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1 -** قوله تعالى: **{اللَّهُ الَّذِي أَنْزَلَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ وَالْمِيزَانَ} [الشورى: من الآية 17]**
الله هغه ذات دی چی په حق سره یی قران او میزان نازل کړی د ی
میزان هغه څه دی چی په هغی باندی نور شیان تللی کیږی او مقایسه کیږی

**2 -** قوله تعالى: **{كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ} [الانبياء: من الآية 104]**
څنګـه چی مونږ اول ځل مخلوق پیدا کړی همداسی به یی بیا راجوندی کوو

**{وَاللَّهُ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَاباً فَسُقْنَاهُ إِلَى بَلَدٍ مَيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا كَذَلِكَ النُّشُورُ} [فاطر:9]**

الله هغه ذات دی چی هواګـانی رالیږی هغه وریځ پیدا کوی بیا مونږ وریځ وچی ځمکی ته بوزو پس پدی سره ځمکه د هغه د مرګ نه پس ژوندی کړو همدغه شان به د انسانانو دوباره راژوندی کیدل وی

نو دلته الله تعالی د مخلوق دوباره راوژوندی کول په ابتدای پیدا کولو باندی قیاس کړی

او د مړو راژوندی کول یی د ځمکی په رازرغونولو باندی قیاس کړی دی

**د سنت څخه دلایل په لاندی ډول دی**

**1 –** د نبی علیه السلام وینا هغه زنانه ته چی مور یی وفات شوی وه او د هغی روژی پاتی وی
«أرأيتِ لو كان على أمك دين فقضيته؛ أكان يؤدي ذلك عنها»؟ قالت: نعم.
قال: «فصومي عن أمك» (1).
که چیرته ستا مور باندی قرض وی نو تا ادا کړی وی ایا ادا شوی به وی هغی وویل: وو.
نبی علیه السلام وفرمایل: پس ته د مور د طرفه روژی ونیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2 –**

أن رجلاً أتى النبي صلّى الله عليه وسلّم فقال: يا رسول الله! ولد لي غلام أسود! فقال: «هل لك من إبل»؟ قال: نعم، قال: «ما ألوانها»؟ قال: حمر، قال: «هل فيها من أورق»؟ قال: نعم، قال: «فأنى ذلك»؟ قال: لعله نزعه عرق، قال: «فلعل ابنك هذا نزعه عرق» (2).

(1) رواه البخاري «1953» كتاب الصوم، 42 – باب من مات وعليه صوم.

ومسلم «1148» كتاب الصيام، 27 – باب قضاء الصوم عن الميت.

(2) رواه البخاري «5305» كتاب الطلاق، 26 – باب إذا عرض بنفي الولد.

ومسلم «1500» كتاب اللعان، بلا.

يو سړی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته راغلو ویی ویل ای د الله رسوله زما یو تور رنګـی ځوی پیدا شو
نبی علیه السلام وفرمایل : ستا اوښـان شته ؟ هغه وویل :هو ، نبی علیه السلام وفرمایل : دهغی رنګـونه څرنګـه دی ؟ هغه وویل : سره ،
نبی علیه السلام وفرمایل : ایا هغی کی غنم رنګـی شته ؟
هغه وویل: هو نبی علیه السلام پوښتنه وکړه : نو دا پکی د کوم ځای نه راغلل ؟ هغه وویل: کیدای شی کوم لری رګ دی لره راکش کړی وی ،
نبی علیه السلام وفرمایل: کیدای شی ستا بچی هم کوم لری رګ لره کش کړی وی
او همدا رنګـه ټـول وارد مثالونه په قران او سنت کی په قیاس باندی دلیل دی ځکه په هغی کی یو شی د بل سره مقایسه شوی وی
د اقوالو د صحابه څخه : د عمر رضی الله عنه رساله چی ابو موسی اشعری رضی الله ته یی د قضاوت په باره کی لیکلی وه
هغی کی یی لیکلی وو : کومه مساله چی تاته راشی او قران حدیث کی نه وی هغی کی اجتهاد وکړه او یو شی په بل باندی مقایسه کړه مثالونه وپیژنه او بیا د هغی څخه هغه قبول کړه چی الله ته ګـران او حق ته نژدی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام ابن القیم رح فرمایي: دا رساله ډیره د قدر وړ ده علماو د مقبولیت درجه ورکړی ده
او مزنی فرمایی: د صحابه کرامو ددور څخه دی دور پوری د فقهاو پدی اتفاق دی چی د حق خبری مشابه خبره حق وی او د باطل مشابه باطل وی او هغوی په ټولو احکامو کی قیاس کړی دی

---

(3) رواه البهقي «10/ 115» كتاب اداب القاضي، باب مايقضي بت القاضي.

والدارقني «4/ 206،207» كتاب في الأقضية والأحكام، كتاب عمر إلى أبي موسى الأشعري ...

وانظر كلام ابن القيم في «إغاثة اللهفان» «1/ 86».

**شروط القياس:**
**د قیاس لپاره شرطونه**
**د قیاس بعضی شروط په لاندی ډول دی**

**1** – د قیاس څخه د بل قوی دلیل مخالفت به پکی نه وی پس هغه قیاس لره اعتبار نشته چی د نص اجماع او د اقوالو د صحابه مخالف وی کله چی مونږ د صحابه قول حجت تسلیم کړو او کله چی قیاس ددی مذکوره نصوصو خلاف وی دیته فاسد الاعتبار وایی

مثال ددی دادی چی چی وویل شی : د عقلمندی ښځی لپاره جایز دی چی د ولی نه بغیر خپله نکاح وکړی ځکه د هغی لپاره جایز دی چی خپل مال د ولی نه بغیر خرڅ کړی
نو دا قیاس فاسد دی ځکه ددی نص سره معارض دی
«لا نكاح إلا بولي» (1). د ولی نه بغیر نکاح نه کیږی

**2** – د اصل حکم به د نص یا اجماع څخه ثابت وی که په قیاس سره ثابت وی هغی باندی به قیاس کول صحیح نه وی بکلی په اولنی اصل باندی به

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیاس کولی شی ځکه هغی ته رجع کول بهتر دی ځکه په هغه شی چی باندی قیاس کول چی د ځان نه اصل جوړ کړی شوی وی کیدای شی صحیح نه وی او ځکه چی په فرع باندی قیاس کول بیا د فرع په اصل باندی قیاس کول دفایدی نه خالی تطویل دی

**مثال ددی:** داسی ویل چی په جوارو کی سود جاری کیږی ځکه دا مونږ په وریجو باندی قیاس کوو او په وریجو کی سود جاری کیږی ځکه دا په غنمو قیاس کوو

---

(1) رواه الترمذي «1101» كتاب النكاح، 14 – باب ما جاء لا نكاح إلا بولي.

وأبو داود «2085» كتاب النكاح، باب في الولي.

وابن ماجه «1880» كتاب النكاح، 15 – باب لا نكاح إلا بولي.

نو داسی قیاس صحیح ندی البته داسی ویل پکار دی چی په جوارو کی سود ځکه جاری کیږی دا مونږ په غنمو قیاس کوو دی لپاره چی قیاس په اصل باند ی وشی کوم چی نص سره ثابت دی

**3 –** د اصل د حکم لپاره به علت معلوم وی دی لپاره چی اصل او فرع پکی جمع شی که چیرته د اصل حکم محض تعبدی وو علت یی نه وو نو دی باندی قیاس کول صحیح ندی

**ددی مثال:** دا ویل چی د هوسی غوښه اودس ماتوی دقیاس د وجی په غوښه د اوښ ځکه هوسی د او ښ سره مشابه ده نو دا قیاس صحیح ندی ځکه د اصل حکم علت معلوم ندی بلکی دا محض تعبدی حکم دی

**4 –** علت به پداسی معنی مشتمل وی چی د حکم سره مناسب وی هغه چی د شریعت د قواعد څخه اعتبار یی ثابت وی
لکه په شرابو کی نشه
که چیرته معنی وصف طردی وو مناسبت یی نه لره نو په هغی باندی تعلیل صحیح ندی لکه توروالی او سوروالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی مثال حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما دی چی بریره کله ازاده کړی شوه نو د خاوند سره پاتی کیدو یا نه پاتی کیدو باره کی اختیار ورکړی شو او د هغی خاوند یو تور رنګـی غلام وو

أن بريرة خيرت على زوجها حين عتقت قال: وكان زوجها عبداً أسود

(1)، نو د ابن عباس رض دا قول چی خاوند یی تور رنګـی وو دا یو وصف طردی دی د حکم سره یی مناسبت نشته دی وجی نه د وینزی لپاره به د ازادی نه پس اختیار حاصل وی اګـر که خاوند یی سپین غلام هم وی البته کله چی یی خاوند ازاد وی نو اختیار ورلـه نشته اګـر که تور هم وی

---

(1) رواه البخاري «5282» كتاب الطلاق، 15 - باب خيار الأمة تحت العبد.

**5 –** علت به په فرع کی د اصل پشان موجود وی

لکه مور او پلار ته په وهلو سره تکلیف ورکول چی هغوی ته په اف ویلو باندی قیاس دی

لیکن که علت په فرع کی موجود نه وو قیاس به باطل وی

ددی مثال : دا ویل چی په غنمو کی د سود جاری کیدو علت (وجه) د غنمو تول دی

دی وجی نه په مڼه کی هم سود جاری کیږی ددی د قیاس په وجه په غنمو باندی

نو دا قیاس صحیح ندی ځکه په فرع کی علت موجود ندی ولی چی مڼه نه تلل کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**أقسام القياس:**
**د قياس اقسام**
**قياس په دوه قسمه دی جلی ،خفی**

ينقسم القياس إلى جليّ وخفيٍّ.
**1 – جلی** هغه قياس دی چی علت يی په نص يا اجماع سره ثابت وی يا د اصل او فرع مابين کی دفارق په نفی باندی قطعی ثبوت موجود وی
مثال د هغه چی په نص سره يی علت معلوم وی
په وينو باندی ګنده شوی کاڼی په استنجا کی نه استعمالول قياسا په منع د استنجا په خوشيانو
ځکه دلته علت د اصل د حکم په نص باندی ثابت دی هغه دا چی ابن مسعود رضی الله عنه نبی عليه السلام ته دوه کاڼی او يو خوشيان راوړل چی استنجی پری وکړی نبی عليه السلام کاڼی اوغستل او خوشيان يی

ګوزار کړل ويی فرمايل : دا ګندګی ده (1)
مثال د هغه چی علت يی په اجماع ثابت وی :
نهي النبي صلّى الله عليه وسلّم أن يقضي القاضي وهو غضبان (2)،
نبی عليه السلام منع کړی چی قاضی د غصی په حالت کی فيصله وکړی نو هغه څوک چی قضا حاجت په تکليف کړی وی هغه به د قضاوت نه منع کيږی قياسا په منع کولو د غصه د فيصلی نه او دا قياس جلی دی ځکه علت د اصل په اجماع سره ثابت دی او هغه د ذهن ګډوډ والی او د زړه مشغوليت دی
مثال د هغی چی د اصل او فرع مابين کی فارق نه وی
قياس کول د تحريم د مال د يتيم په اغوستلو د هغی د مال د يتميم په خوړلو سره ضايع کولو باندی ځکه دواړی که فارق نشته
**2 – خفی** هغه قياس چی علت يی په استنباط سره ثابت وی او د اصل او فرع مابين کی د فارق په نفی باندی تصريح نه وی
مثال ددی: د سود په جاری کيدو کی د اشنان قياس په غنمو باندی ځکه داوړه تللی شی
نو د تللو علت نه په نص ثابت دی نه په اجماع او دی کی د اصل او فرع مابين کی فارق باندی تصريح هم نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه دا فرق شته چې غنم د خوراک شی دی او اشنان ددی برعکس نه خوړلی کیږی

**قیاس شبه**

**قیاس الشبه:**
دادی چې فرع ددوه اصولو مابین کی تردد وکړی ددواړو اصول حکم مختلف وی او فرع د هر یو سره مشابهت لری نو د کوم سره یی چې مشابهت ډیر وی هغی سره به یی الحاق کیدای شی

(1) رواه البخاري «156» كتاب الوضوء، 21 – باب لا يستنجى بروث.

(2) رواه البخاري «7158» كتاب الأحكام، 13 – باب هل يقضي القاضي أو يفتي وهو غضبان.

ومسلم «1717» كتاب الأقضية، 7 – باب كراهة قضاء القاضي وهو غضبان.

**مثال ددی:** غلام دی ایا غلام د تملیک حق لری کله چې قیاس یی په ازاد وشی او که نه لری کله چې قیاس یی په حیوان وشی
نو کله چې مونږ دی دوه اصولو( ازاد او حیوان) ته وګورو نو غلام ددواړو مابین کی راځی
ددی حیثته چې انسان یو عاقل دی په نیک کار ورته ثواب او په بد ورته ګناه میلاویږی نکاح کوی طلاق ورکوی پدی ټولو کارونو کی د ازاد سره مشابهت لری
او ددی حیثیته چې هغه خرڅولی ګاڼه کولی وقف کولی هبه کولی شی میراث ترینه اغستلی شی دی کی د حیوان سره مشابهت لری
نو مونږ وینو چې غلام د تصرف مالی د لحاظه د حیوان سره ډیر مشابه دی نو دی سره به یی الحاق کیږی
او د قیاس دا قسم ضعیف دی ځکه د اصل او فرع مابین کی علة مناسب نشته صرف دومره ده چې اکثرو احکامو کی یی مشابهت لری حالانکه بل اصل ورسره پدی کی مخالف وی

**قیاس عکس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اصل د حکم مخالف معنی د فرع لپاره ثابتول دی وجی نه چی په فرع کی د اصل ضد معنی وجود لری
ددی مثال د نبی علیه السلام حدیث دی
«وفي بضع أحدكم صدقة». قالوا: يا رسول الله! أيأتي أحدنا شهوته ويكون له فيها أجر؟ قال: «أرأيتم لو وضعها في حرام أكان عليه وزر؟ فكذلك إذا وضعها في الحلال كان له أجر» (1).
په شرمګاه د یو تن تاسو کی صدقه ده ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه ای د الله رسوله : مونږ کی به یو کس خپل شهوت پوره کوی او په هغی کی به ورته اجر وی ؟ هغه وفرمایل : که چیرته یی دغه په حرام کی استعمال کړی وی نو ګناه به پری وی ؟ هغوی وویل هو ؟ نبی علیه السلام وفرمایل : همدغه شان کله چی یی په حلال کی استعمال کړه نو اجر به یی کیږی

---

(1) رواه مسلم «1006» كتاب الزكاة، 16 - باب بيان أن اسم الصدقة يقع على كل نوع من المعروف.

نو نبی علیه السلام د فرع لپاره چی هغه حلاله جماع ده داصل ( چی حرام زنا ده ) مخالف حکم ثابت کړ ځکه په فرع کی د اصل مخالف علت موجود دی
نو نبی علیه السلام د فرع لپاره اجر ثابت کړ ځکه دا حلال طریقی سره جماع ده لکه څنګه چی په اصل کی ګناه ده ځکه هغه حرام کار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# التعارض

## د تعارض تعریف :

تعارض په لغت کی تقابل ( د یو بل سره ټکراو) او تمانع ( یو بل منع کول ) ته وایی

په اصطلاح کی ددوه دلیلونو ټکراو داسی چی یو د بل مخالف وی

**تعارض په څلور قسمه دی**

تعارض ددوه عام دلایلو مابین کی واقع وی ددی څلور حالات دی

**1 –** ددواړو مابین کی به جمع ممکن وی هر یو به پداسی حالت باندی محمول شی چی د بل سره مخالفت یی نه راځی نو دی صورت کی جمع واجب ده

ددی مثال دالله دا قول دی : **{وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ} [الشورى: من الآية 52]**

ای نبی بیشکه ته صراط مستقیم طرفته خلکو ته هدایت کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دالله دا قول **{إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ} [القصص: من الآية 56]**
ای نبی صلی الله علیه وسلم بیشکه ته هغه چاته هدایت نشی کولی چی ته یی خوښوی
دواړو مابین کی جمع داده چی د اول ایت څخه مراد حق طرفته د لارښودنه ده او دا د نبی علیه السلام لپاره ثابت ده
او ددویم ایت نه مراد هدایت د توفیق دی عمل طرفته نو دا د الله تعالی په لاس کی ده نه د رسول صلی الله علیه وسلم او نه بل چا لره

**2 –** که جمع ممکن نه وی نو متاخر دلیل به ناسخ وی که تاریخ معلوم شی نو هغی باندی به عمل کولی شی او اول به ترک کولی شی
ددی مثال د الله تعالی د روژی باره کی دا قول دی
**{فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْراً فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ} [البقرة: من الآية 184]**
چا چی کفاره ورکړه دا د هغه لپاره بهتر ده او که تاسو روژه ونیسی ستاسو لپاره بهتر ده
دی ایت کریمه کی د اطعام ( خوراک ورکولو) او روژی مابین کی اختیار دی سره ددی چی روژه نیول بهتر دی
او دالله دا قول
**{فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيضاً أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ} [البقرة: من الآية 185]**
څوک چی ستاسو څخه په دی میاشت ( رمضان ) کی موجود وی نو روژه دی ونیسی او څوک چی مریض وی یا په سفر باندی وی نو وروسته دی د روژو قضا راوړی
دا ایت دلالت کوی چی روژه نیول په حق د هغه چا چی مریض او مسافر نه وی ضروری دی او ددی دواړو په حق کی قضا ده
لیکن دا دویم ایت د اولنی څخه متاخر ( وروسته راغلی ) دی
نو دا به د اولنی ایت لپاره ناسخ وی لکه دی نسخ باندی دلیل دحدیث دسلمه بن الاکوع رضی الله عنه دی چی بخاری او مسلم وغیره کتابونو کی وراد دی
**3 –** که د تاریخ علم نه وی نو په راجح به عمل کولای شی کله چی یو مرجح( ترجیح ورکونکی دلیل ) موجود وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی مثال د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا قول دی
«من مس ذکره فلیتوضأ» چا چی خپلی شرمګـاه له لاس وروړه نو اودس دی وکړی
(2) وسئل صلّى الله عليه وسلّم عن الرجل يمس ذكره؛ أعليه الوضوء؟ قال: «لا إنما هو بضعة منك» (3)،
بل حدیث کی راځی د هغه څخه دیو کس باره کی پوښتنه وشوه چی خپلی شرمګـاه لره لاس وروړی ایا په هغه اودس لازم دی هغه وفرمایل : نه بیشکه شرمګـاه خو ستا د بدن یو حصه ده

---

(2) رواه أبو داود «181»، والترمذي «82»، وابن ماجه «481»، والنسائي في «الصغرى» «444»، وأحمد «6/ 27334/406»، وصححه ابن حبان «213 - الموارد» كتاب الطهارة، 29 - باب ما جاء في مس الفرج.

(3) رواه أبو داود «182»، والترمذي «85»، والنسائي في «الصغرى» «165»، وابن ماجه «483».

نو اولنی حدیث ته به ترجیح ورکولی شی ځکه دی کی ډیر احتیاط دی او طرق یی هم ډیر دی ډیرو علماو صحیح کړی دی د اصل څخه نقل کونکی دی او دی کی زیادت د علم دی

. **4 –** که مرجح ( ترجیح ورکونکی څه دلیل ) نه وی نو توقف به کولی شی او ددی لپاره کوم صحیح مثال نشته

**دویم قسم :تعارض به ددوه خاص دلایلو مابین کی واقع وی او ددی هم څلور حالات دی**

**1 –** ددواړو مابین کی به جمع ممکن وی نو جمع به واجب وی
ددی مثال د نبی علیه السلام د حج باره کی د جابر رضی الله عنه حدیث دی
وسلّم أن النبي صلّى الله عليه وسلّم صلى الظهر يوم النحر بمكة (1)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی نبی علیه السلام د ماسپښین موذځ د اختر په ورځ په مکی کی وکړ
او بل حدیث د ابن عمر رضی الله عنهما دی
أن النبي صلّى الله عليه وسلّم صلاها بمنى (2)، چی نبی علیه السلام دا موذځ په منی کی وکړ
ددی دواړو مابین کی جمع داسی ده چی هغه اول کی په مکه کی کړی بیا چی کله منی ته وتلی هلته یی دوباره صحابه کرامو ته ددی موذځ امامت کړی

**2 –** که جمع ممکن نه وه نو دویم به ناسخ وی که چیرته تاریخ معلوم وو ددی مثال د الله تعالی دا قول دی

---

(1) رواه مسلم «1218» في حديث جابر الطويل، كتاب الحج، 19 - باب حجة النبي صلى الله عليه وسلم.

(2) رواه البخاري «1653» كتاب الحج، 83 - باب أين يصلى الظهر يوم التروية.

ومسلم «1309» كتاب الحج، 58 - باب استحباب طواف الإفاضة يوم النحر من حديث أنس.

: **{يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللاَّتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمّا أَفَاءَ اللّهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمّاتِكَ} [الأحزاب: من الآية 50]،**
ای نبی مونږ تا لپاره ستا بیبیانی حلالی کړی کومو ته چی تا مهر ورکړی او هغه وینزی چی ته یی مالک یی کومی چی الله تعالی تاته په غنیمت کی درکړی او لورګانی ستا د تره او لور ګانی ستا دترور
او بل د الله دا قول
**{لا يَحِلُّ لَكَ النِّسَاءُ مِنْ بَعْدُ وَلا أَنْ تَبَدّلَ بِهِنّ مِنْ أَزْوَاجٍ وَلَوْ أَعْجَبَكَ حُسْنُهُن} [الأحزاب: من الآية 52]،** دی نه پس ستا لپاره زنانه ندی حلالی او نه دا چی ته دی موجوده بیبیانو لره په نورو بدل کړی اګر که تا لره د هغوی حسن په تعجب کی اچوی

نو د یول قول مطابق دا دویم ایت د اول لپاره ناسخ دی

**3 –**که نسخ ممکن نه وی نو په راجح به عمل کولی شی کله چی مرجح موجود وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی مثال د میمونه رضی الله عنها حدیث دی
أن النبي صلّى الله عليه وسلّم تزوجها وهو حلال (1) نبی علیه السلام د هغی سره نکاح کړی وه او هغه د احرام حالت کی نه وو
بل حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما دی
أن النبي صلّى الله عليه وسلّم تزوجها وهو محرم (2)،
نبی علیه السلام هغی سره نکاح د احرام په حالت کی کړی وه
نو اولنی حدیث به راجح وی ځکه میمونه ددی واقعی شاهده ده د هغی باره کی د هر چا څخه ډیره پوهه لری بل دا چی د هغی حدیث لره د ابو رافع رضی الله عنه حدیث شاهد دی

---

(1) رواه مسلم «1411» من حديث ميمونة: كتاب النكاح، 5 – باب تحريم نكاح المحرم وكراهية خطبته و «1410» من حديث ابن عباس.

قال ابن عبد البر «3/ 152» من «التمهيد»: الرواية عن ميمونة متواترة.

(2) رواه البخاري «5114» كتاب النكاح، 30 – باب نكاح المحرم.

أن النبي صلّى الله عليه وسلّم تزوجها وهو حلال قال: وكُنْتُ الرَّسُولَ بَيْنَهُما (3). چی نبی علیه السلام د هغی سره نکاح کړی وه او نبی علیه السلام حلال وو ابو رافع فرمایی: زه ددواړو مابین کی استازی وم
**4 –** که مرجح موجود نه وی نو توقف به کولی شی او ددی لپاره کوم صحیح مثال نشته
**دریم قسم:** تعارض به د عام او خاص مابین کی واقع وی نو د عام به په خاص سره تخصیص وشی
ددی مثال د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا قول دی
**«فيما سقت السماء العشر»** (1)

**او دا قول«ليس فيما دون خمسة أوسق صدقة»** (2)

**نو اولنی به په دویم سره خاص کولی شی او زکات به نه واجبیږی مګر په پینځه وسقه کی**

څلورم قسم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعارض ددوه داسی نصوصو مابین کی واقع وی چی یو من وجه عام وی
او من وجه خاص وی
نو ددی دری حالات دی

**1 – د یو په تخصیص باندی دلیل وجود ولری نو د هغی د عموم تخصیص به دی سره وشی**

**ددی مثال د الله تعالی دا قول دی**

**مثاله: قوله تعالى: {وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجاً يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْراً} [البقرة: من الآية 234]، هغه کسان چی ستاسو څخه وفات کیږی او خپلی زنانه پریږدی نو انتظار به کوی په خپلو ځانونو باندی څلور میاشتی او لس ورځی**

**او دالله دا قول**

**{وَأُولاتُ الأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ} [الطلاق: من الآية 4]**

**حاملی زنانه عدت د حمل وضع کول دی ( د بچی پیدایش دی )**

**نو اولنی ایت په متوفی عنها او حاملی داوړو ته شامل دی او دویم خاص دی د حاملی باره کی عام دی په متوفی عنها کی لیکن بل دلیل موجود دی چی اولنی ایت په دویم سره خاص شوی دی هغه دا چی سبیعه اسلمیه رضی الله عنها د خاوند د وفات نه یو څو شپی پس بچی راوړ نو نبی علیه السلام هغی ته د نکاح اجازت وکړ**

**دی وجی نه د حاملی ښځی عدت به د حمل وضع کولو پوری وی برابره ده که خاوند ترینه وفات شوی وی یا نه**

**2 –** که د تخصیص لپاره څه دلیل نه وی نو په راجح به عمل کولای شی
ددی مثال د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا قول ید
«إذا دخل أحدكم المسجد فلا يجلس حتى يصلي ركعتين» (1)
کله چی یو تن په تاسو کی مسجد ته داخل شی نو تر هغه پوری دی نه کینی تر څو چی یی دوه رکعته نه وی ادا کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د نبی علیه السلام دا قول
«لا صلاة بعد الصبح حتى تطلع الشمس، ولا صلاة بعد العصر حتى تغرب الشمس» (2).

---

(1) رواه البخاري «444» كتاب الصلاة، 60 – باب إذا دخل المسجد فليركع ركعتين. ومسلم «714» كتاب صلاة المسافرين وقصرها، 5 – باب جواز الجمع بين الصلاتين في السفر.

(2) رواه البخاري «586» كتاب مواقيت الصلاة، 31 – باب لا يتحرى الصلاة قبل غروب الشمس، ومسلم «827» كتاب صلاة المسافرين وقصرها، 51 – باب الأوقالت التي نهي عن الصلاة فيها

د سحر مونځ نه پس هیڅ مونځ نشته تر څو چی نمر نه وی راختلی او د مازیګـر نه پس هیڅ مونځ نشته تر څو چی نمر نه وی غروب شوی
نو اولنی حدیث په تحیه المسجد پوری خاص دی او د وخت په اعتبار سره عام دی
دویم د وخت په اعتبار سره خاص دی او په مونځ کی عام دی تحیه المسجد ته هم شامل دی او غیر ته هم
**3 –** که چیرته د عموم د تخصیص لپاره مرجح او دلیل نه وی نو په دواړو به عمل واجب وی کله چی تعارض نه وی او توقف به کولی شی په حالت د تعارض کی
لیکن دا هیڅ کله نشی کیدای چی داسی تعارض دی نصوصو کی واقع وی چی نه یی جمع ممکن وی نه نسخ او نه ترجیح ځکه نصوص تناقض والا ندی او نبی کریم صلی الله علیه وسلم امت ته هر څه بیان کړی دی او پوره تبلیغ یی کړی دی البته تعارض د مجتهد د کم نظری د وجی کله کله واقع کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن راجح دادی چی د دویم د عموم تخصیص په اول سره وشی نو تحیه المسجد په اوقات مکروهه کی جایز شی
مونږ پدی وجه دا ترجیح ورکړه ځکه چی ددویم د عموم تخصیص د تحیه المسجد نه علاونه نورو عباداتو کی ثابت ده لکه د فرض مونځ قضا د جماعت راگـرځول نو عموم دلته ضعیف دی

---

# الترتیب بین الأدلة

**دلایلو له ترتیب ورکول**

کله چی مذکوره دلایل ( کتاب سنت اجماع قیاس ) په یو حکم باندی متفق وی یا ددی نه یو په هغی متفق وی پداسی حال کی چی تعارض نه وی نو ددی حکم په ثبوت باندی عمل کول واجب دی او که تعارض واقع وی او جمع ممکن وی جمع به کولی شی که جمع کول ممکن نه وی په نسخ به عمل کولی شی کله چی د نسخ شروط مکمل وی
که نسخ ممکن نه وی ترجیح به ورکولی شی
د قران او سنت څخه به ترجیح لاندی دلایلو ته ورکولای شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نص به په ظاهر باندی مقدم وی ظاهر به موول باندی منطوق به مفهوم
باندی مثبت به نافی باندی د اصل څخه نقل کونکی به په هغه چی په اصل
باقی وی ځکه د ناقل سره زیادت علم دی
عام به په محفوظ باندی
هغه دلیل چی د قبولیت صفات پکی ډیر وی د بل په نسبت
د واقعی شاهد به په غیر باندی مقدم وی قطعی اجماع به په ظنی باندی
قیاس جلی به په قیاس خفی باندی

## المُفْتي والمُسْتَفْتي

فتوی ورکونکی او فتوی غوښتونکی
مفتی: هغه څوک چی خلکو ته دالله حکم بیانوی
مستفتی : هغه څوک چی د حکم شرعی باره کی تپوس کوی
د فتوی شروط
د فتوی ورکولو لپاره لاندینی شروط ضروری دی
**1** – مفتی به د حکم باره کی یقین یا ظن راجح لری که دا نه وی هغه
باندی توقف واجب دی
**2** –سوال به په توجه سره اوری چی د جواب ورکول ورته اسان شی ځکه
په یو شی باندی حکم لګول د هغی باره کی سوچ کولو څخه فرع ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرته هغه د سایل په سوال باندی پوره توګـه سره پوهه نه شی نو پوښتنه به تری کوی که تفصیل ته ضرورت وی تفصیل به ترینه طلب کوی یا به ورته تفصیل ذکر کوی
کله چی هغه نه د یو کس باره کی پوښتنه وشی چی وفات شوی دی یو ځوی یو وروور تره یی پریخی دی
نو پوښتنه به کوی چی دا وروور د مور د طرفه دی که نه ؟ یا به جواب تفصیل سره ورکوی( کله چی تفصیل ته ضرورت وی )
که وروور د مور د طرفه وی نو میراث کی یی هیڅ حصه نشته او باقی مال د لور د حصی نه پس د تره دی او که د مور نه نه وی نو باقی مال به د لور د حصی نه پس د هغه وی او د تره به هیڅ نه وی

**3 –** مفتی به ذهنی طور سره مطمین وی دی لپاره چی مساله باندی ځان پوهه کړی او په ادله شرعیه سره یی جواب وکړی هغه به د غصی غم ستړی والی حالت کی فتوی نه ورکوی
او د فتوی د وجوب لپاره بعضی شرطونه په لاندی ډول دی
- د کومی مساله باره کی چی پوښته شوی هغه به په واقع کی وجود لری که وجود یی نه لره نو بغیر د ضرورت نه فتوی ورکول ضروری ندی
مګـر که د سایل مقصد تعلیم حاصلول وی نو د علم پټول جایز ندی بلکی مفتی به جواب ورکوی کله چی ترینه پوښتنه وشی

.
**2 –** د سایل د حالت څخه به دا معلوم نه وی چی د هغه مقصد تعنت ( بی ځای سوال کول) یا د رخصتونو تلاش یا د علماو د اقوال یو بل سره جنګـول یا نور بد مقاصد دی که چیرته د سایل د حال څخه دا مذکور شیان معلوم وی نو فتوی ورکول به واجب نه وی
**3 –** په فتوی باندی به داسی څه نه مرتبیږی چی ددی څخه یی ضرر ډیر وی که چیرته داسی حال وی نو فتوی څخه توقف کول واجب دی دی لپاره چی اشد مفسده په اقل سره دفع کړی شی

په سایل باندی څلور کارونه لازم دی
١: د سوال کولو مقصد به یی حق حاصلول او په هغی عمل کول وی نه دا چی د رخصتونو تلاش او د مفتی شرمول وغیره بد مقاصد وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢: د هغه چا څخه به پوښتنه کوی چی دده یقین یا ظن غالب وی چی هغه د فتوی اهل دی
او دی له پکار دی چی په مفتیانو کی ډیر علم والا ډیر زهد والا اختیار کړی یو قول دا هم دی چی دا واجب دی

٣:د خپل سوال صحیح وضاحت به کوی لکه د یو سایل سوال چی نبی علیه السلام نه یی کړی وو
مونږ په بحر کی سفر کوو او ځان سره لږ اوبه وړو کله چی مونږ پدی اودس وکه نو مونږ تږی کیږی ایا مونږ د بحر په اوبو اودس شو کولای؟
۴:د مفتی خبره به په غور سره اوری د هغه څخه به تر هغه پوری نه پاڅیږی تر څو چی پوره مساله باندی پوهه شوی نه وی

---

# الإجتهاد

**د اجتهاد تعریف :** اجتهاد په لغت کی د سخت کار د حاصلول لپاره کوشش کولو ته وایی
او په اصطلاح کی د حکم شرعی د حاصلولو لپاره کوشش کولو ته وایی
مجتهد: هغه کس چی دی باره کی کوشش کوی

**شروط الاجتهاد:**
**د اجتهاد بعضی شرطونه په لاندی ډول دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1 –** مجتهد به د ادله شرعیه څخه ددومره مقدار علم لری چی اجتهاد کی ورته ضرورت لری لکه د احکامو ایات او احادیث
**2 –** د حدیث د صحت او ضعف دمتعلق به ورته معلوم وی لکه د سند پیيژندنه و رجالو علم وغیره
**3 –** ناسخ منسوخ او اجماع به ورته معلومه وی تر دی چی په منسوخ باندی حکم ونه لګـوی او د اجماع خلاف فتوی ورنه کړی

**4 –** د ادله تخصیص تقیید وغیره به ورته معلوم وی کومو سره چی حکم بدلیږی تر دی چی دهغی خلاف حکم ونه لګـوی

أن يعرف من الأدلة ما يختلف به الحكم من تخصيص، أو تقييد، أو نحوه حتى لا يحكم بما يخالف ذلك.
**5 –** د لغت عربی او اصول فقه علم به ورسره دومره مقدار کی وی چی د الفاظو دلالات به ورته معلوم وی لکه عام خاص مطلق مقید مجمل مبین دی لپاره چی ددی الفاظو د تقاضا مطابق فتوی صادره کړی

**6 –** د هغه سره به دومره علم وی چی د دلایلو څخه د احکامو استنباط وکړی
او اجتهاد کله په یو باب د علم کی وی او کله په یو مساله د مسایلو کی وی

**په مجتهد باندی څه لازم دی ؟**
مجتهد باندی لازم دی چی د حق په تلاش کی خپل کوشش وکړی بیا د هغی مطابق فیصله وکړی که حق فیصله یی وکړه نو دوه اجرونه دی د اجتهاد اجر او حق ته د رسیدو اجر
ځکه حق ته رسیدل د هغی د ظاهرول او په هغی د عمل کولو سبب دی او که خطا شو نو یو اجر دی ورله او خطا معاف ده
نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی :
«إذا حكم الحاكم فاجتهد، ثم أصاب فله أجران، وإذا حكم فاجتهد، ثم أخطأ فله أجر» (1).
کله چی حاکم اجتهادا یو فیصله وکړی او حق ته ورسی د هغه لپاره د وه اجره دی او که فیصله وکړی او خطا شی نو یو اجر یی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که مساله ورته نه وی معلومه توقف به کوی او د ضرورت په وخت ورله تقلید کول هم جایز دی

---

(1) رواه البخاري «7352» كتاب الاعتصام، 21 – باب أجر الحاكم إذا اجتهد فأصاب أو أخطأ.

ومسلم «1716» كتاب الأقضية، 6 – باب بيان أجر الحاكم إذا اجتهد فأصاب أو أخط

## **التّقليد**

## **د تقلید تعریف:**

تقلید په لغت کی : په غاړه کی داسی شی اچول چی هغی نه د هار پشان راتاو وی

په اصطلاح کی د هغه چا تابعداری کول چی قول یی حجت نه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ پدی قول سره چی قول یی حجت نه وی دی سره د نبی علیه السلام ، د اهل اجماع او د صحابی د قول تابعداری خارج شوه ( دا هله چی د صحابی قول ته مونږ حجت وایو)
نو ددی تابعداری ته تقلید نه وایی ځکه دا د حجت تابعداری ده البته مجازا ورته د تقلید لفظ استعمالول جایز دی

**مواضع التقليد:**

**د تقلید کولو ځایونه**

**١:** چی مقلد یو عامی وی پخپله د شریعت حکم نه پیژنی نو ده باندی تقلید ضروری دی
الله فرمایی:
**{فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ} [النحل: من الآية 43]،**
د علماو څخه پوښتنه وکړی که چیرته تاسو نه پوهیږی
عامی به د هغه عالم تقلید کوی چی علم او زهد یی زیات وی که د هغه په نزد باندی دوه علما همدارنګـه وی نو بیا ورله د یو په اختیارولو کی اختیار دی

**الثاني:** أن يقع للمجتهد حادثة تقتضي الفورية، ولا يتمكن من النظر فيها فيجوز له التقليد حينئذ، واشترط بعضهم لجواز التقليد أن لا تكون المسألة من أصول الدين التي يجب اعتقادها؛ لأن العقائد يجب الجزم فيها، والتقليد إنما يفيد الظن فقط. والراجح أن ذلك ليس بشرط؛ لعموم قوله تعالى: **{فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ} [النحل: من الآية 43]** والآية في سياق إثبات الرسالة، وهو من أصول الدين، ولأن العامي لا يتمكن من معرفة الحق بأدلته، فإذا تعذر عليه معرفة الحق بنفسه لم يبق إلا التقليد؛ لقوله تعالى: **{فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ} [التغابن: من الآية 16].**

**أنواع التقليد:**
**د تقلید اقسام**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تقلید په دوه قسمه دی**
**عام ، خاص**

**1** – عام دادی چی د یو مذهب خاص مذهب التزام وکړی د هغه رخصت او عزیمت دواړه ددین په ټولو کارونو کی اختیاروی
دی باره کی علماو اختلاف کړی بعضو ورته واجب ویلی دی ځکه متاخرین د اجتهاد لایق ندی او بعضو ورته حرام ویلی ځکه پدی کی د نبی علیه السلام د تابعداری نه بغیر د بل چا تابعداری په هر شی کی راځی
امام ابن تیمیه رح فرمایی:
إن في القول بوجوب طاعة غير النبي صلّى الله عليه وسلّم في كل أمره ونهيه، وهو خلاف الإجماع وجوازه فيه ما فيه (1).
د غیر نبی په هره خبره کی تابعداری کول واجب ګڼړل د اجماع خلاف عمل دی او ددی په جواز کی نظر دی
بیا فرمایی: چا چی یو خاص مذهب اختیار کړ بیا یی د بل عالم د تقلید نه بغیر ددی مذهب خلاف عمل وکړ چی فتوی یی ورکړی وه یا ده خپله استدلال هم نه وو کړی او نه کوم عذر شرعی وو چی دده دی کار ته حلال وویل شی
نو دا د خپل خواهش تابعدار دی او عذر شرعی نه بغیر د یو محرم کار مرتکب دی البته که ده ته د یو قول ترجیح په بل باندی معلومه وه یا په دلایلو سره چی ده ته معلوم وو یا یو عالم ورته ډیر علم والا ښکاریده نو دا به ددغی مرجوح قول نه راجح طرفته رجوع کوی او دا کول ورله صرف جایز ندی بلکی واجب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1) «الفتاوى الكبرى» «4/ 625».

امام احمد ددی خبری وضاحت کړی دی

**2 –** تقلید خاص دادی چی د یو خاص عالم فتوی په یوی خاص مساله کی واخلی نو دا جایزدی د هغه چا لپاره چی د اجتهاد څخه یا بلکل عاجز وی یا یی کولی شی خو مشقت وی ورته
د مقلد فتوی:

الله تعالی فرمایی: **{فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ} [النحل: من الآية 43]** د اهل ذکر نه تپوس وکړی که چیرته تاسو نه پوهیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اهل ذکر نه مراد علما دی او مقلد د علماو څخه ندی بلکی هغه د بل چا تابع دی
ابن عبدالبر فرمایی: علماو اجماع کړی چی مقلد د علماو د جماعت څخه ندی ځکه چی علم په دلیل سره د حق پیژندلو ته وایی
ابن القیم رحمه الله فرمایی: خبره همداسی ده لکه ابن البر رحمه الله چی کړی ځکه دی کی هیڅ اختلاف نشته چی علم په دلیل سره معرفت حاصلول ته وایی هغه معرفت چی ددلیل نه بغیر حاصل شی هغه تقلید دی
بیا ابن القیم په تقلید سره د فتوی جواز باره کی دری اقوال ذکر کړی دی
١: دادی چی په تقلید سره فتوی ورکول جایز ندی ځکه دا علم ندی او بغیر دعلم نه فتوی ورکول حرام د یاو دا د جمهورو شوافعو قول دی
٢: د هغه مساله باره کی جایز دی چی د مفتی د شخصیت سره تعلق لری او که بل چاته فتوی ورکوی بیا حرام دی
٣: د حاجت په وخت کی جایز دی کله چی مجتهد عالم موجود نه وی او دا راجح قول دی پدی باندی عمل دی
دابن القیم رح خبره ختمه شوه.

پدی سره زمونږه رساله اختتام ته ورسیده دالله تعالی څخه دعا ده چی مونږ ته په قول او عمل کی د حق توفیق راکړی او زمونږ اعمال قبول کړی
بیشکه هغه سخی او کریم ذات دی
وصلی الله وسلم علی نبینا محمد وآله

# مصادر او مراجع


1 – القاموس المحيط: الفيروزأبادي.

2 – الكوكب المنير شرح مختصر التحرير: الفتوحي.

3 – منهاج الأصول وشرحه: البيضاوي له المتن، والشارح مجهول لنا.

4 – شرح جمع الجوامع وحاشيته: الشرح للمحلي، والحاشية للبناني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**5 – روضة الناظر وشرحها: الأصل للموفق، والشرح لعبد القادر بن بدران.**
**6 – حصول المأمول من علم الأصول: محمد صديق.**
**7 – المدخل إلى مذهب أحمد بن حنبل: عبد القادر بن بدران.**
**8 – إرشاد الفحول إلى تحقيق الحق من علم الأصول: الشوكاني.**
**9 – فتاوى شيخ الإسلام ابن تيمية: الجامع عبد الرحمن بن قاسم.**
**10 – المسودة في أصول الفقه: شيخ الإسلام ابن تيمية وأبوه وجده.**
**11 – زاد المعاد: ابن القيم.**
**12 – إعلام الموقعين: ابن القيم.**

# د موضوعاتو فهرست


| شميره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ١ | مقدمة المؤلف | ٢ |
| ٢ | اصول فقه | ٣ |
| ٣ | د اصول فقه فایده | ۴ |
| ۴ | د احکام شرعیه اقسام | ۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ٥ | احکام وضعيه | ٨ |
| ۶ | علم | ١١ |
| ٧ | د علم اقسام | ١٢ |
| ٨ | الکلام | ١٣ |
| ٩ | حقيقت او مجاز | ١٧ |
| ١٠ | امر | ٢٠ |
| | د امر صيغې | ٢٠ |
| ١١ | نهی | ٢٥ |
| ١٢ | د تکليف موانع | ٢٩ |
| ١٣ | العام | ٣١ |
| ١۴ | د عموم صيغې | ٣١ |
| ١٥ | خاص | ٣٥ |
| | د استثنا شرطونه | ٣۶ |
| ١۶ | مخصص منفصل | ٣٨ |
| ١٧ | مطلق او مقيد | ۴٢ |
| ١٨ | مجمل او مبين | ۴۴ |
| ١٩ | تعريف المؤول | ۴٧ |
| ٢٠ | النَّسْخ | ۴٩ |
| ٢١ | د نسخ شروط | ٥١ |
| ٢٢ | أقسام النسخ | ٥٣ |
| ٢٣ | الأخبار | ٥۶ |
| ٢۴ | اجماع | ۶٣ |
| ٢٥ | أنواع الإجماع | ۶٥ |
| ٢۶ | شروط الإجماع | ۶۶ |
| ٢٧ | القياس | ۶٧ |
| ٢٨ | شروط القياس | ٧٠ |
| ٢٩ | أقسام القياس | ٧٢ |
| ٣٠ | قياس شبه | ٧٣ |
| ٣١ | التعارض | ٧۶ |
| ٣٢ | الترتيب بين الأدلة | ٨٣ |
| ٣٣ | المُفْتي والمُسْتَفْتي | ٨۴ |
| ٣۴ | الإجتهاد | ٨۶ |
| ٣٥ | شروط الاجتهاد | ٨۶ |
| ٣۶ | التَّقليد | ٨٨ |
| ٣٧ | مواضع التقليد | ٨٨ |
| ٣٨ | د تقليد اقسام | ٨٩ |
| ٣٩ | مصادر او مراجع | ٩١ |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**